# له نورو علوموسره
# د ښوونې او روزنې د اړیکې پلټنه

Ketabton.com

لیکوال: پوهنیار سید احمد شاه شریفي

ژباړن: محمد اکبر نیازی

۱۳۹۴ لمریز کال

ketabton.com - The Digital Library

# له نورو علومو سره
# د ښوونې روزنې د اړیکې پلټنه

لیکوال:

پوهنیار سیداحمدشاه شریقي

ژباړن:

محمد اکبر نیازی

۱۳۹۴ل کال

ketabton.com - The Digital Library

بسم الله الرحمن الرحیم

# کتاب پېژندنه:


د کتاب نوم: له نورو علومو سره د ښوونې روزنې اړیکې پلټنه

لیکــوال: پوهنیار سید احمد شاه شریفي

ژباړن: محمد اکبر نیازی

خپرونـدی: د افغانستان ملي تحریك، فرهنګي څانګه

وېـبپـاڼـه: www.melitahrik.com

کمپوز: ژباړن

ډیزاینګر: ضیاء ساپی

پښتی ډیزاین: فیاض حمید

چـاپشمېـر: ۱۰۰۰ ټوکه

چـاپـکـال: ۱۳۹۴ ل کال/ ۲۰۱۵م

د تحریك د خپرونو لړ: (۸۶)


یادونه: د چاپ حقوق له ملي تحریک سره خوندي دي او د کتاب د محتوا مسولیت لیکوال پورې اړه لري.

ketabton.com - The Digital Library

# لړلیک

**سرلیک** **مخ**

د پیل خبرې.................................................... ۱
د ژباړن خبرې................................................... ۵
سریزه.............................................................. ۶
ارزښت او اړتیا................................................... ۹
تیرو اثارو ته کتنه................................. ...................... ۹
د ښوونې روزنې او نورو علومو ترمنځ اړیکه ............................. ۱۱
د فلسفې بحثونه.................................. .................................. ۱۲
د فلسفې پیژندنه ............................................. ۱۴.
د فلسفې سره د ښوونې روزنې اړوند مفاهیم ........................... ۱۶
د علومو سره د فلسفې اصلي او عمده اختلافات........................ ۲۲
د فلسفې او ښوونې روزنې ترمنځ د مقایسوي اړیکې موندنه... ۲۳
د ښوونې روزنې او اروا پوهنې ترمنځ اړیکې.......................... ۳۱
دانسان بنسټیزې اړتیاوې ........................................... ۳۸
په انساني شخصیت کې د اړتیاوو ونډه او ارزښت ..................... ۴۲
روغتیا او سلامتیا څه ته وایي؟ او سالم څوک دی؟ ................ ۴۳
د روغتیا زده کړه................................................... ۵۴
د ښوونې روزنې او ټولنپوهنې ترمنځ اړیکه............................ ۵۹
د ښوونې روزنې او اقتصاد ترمنځ اړیکه ............................. ۶۶

ketabton.com - The Digital Library

**دیوې ټولنې اقتصادي سرچینې عبارت دي له ........................... ۷۳**
**دښوونې روزنې او سیاست ترمینځ اړیکه.................................... ۷۴**
**نولي دسیاست څوتعریفونه په لاندې ډول کړي ........................ ۸۱**
**د ښوونې روزنې، دین او مذهب ترمینځ اړیکې ............................ ۸۵**
**د ښوونې روزنې او سولې ترمینځ اړیکه ...................................... ۸۹**
**دښوونې روزنې او شمیرنې ترمینځ توپیر .......................... ....... ۹۵**
**د ښوونې روزنې او انسان پیژندنې ترمینځ توپیر ...................... ۹۷**
**د ښوونې روزنې او اناتومي ترمینځ توپیر .................................. ۹۹**
**د ښوونې روزنې او فزیولوژي ترمینځ توپیر ............................... ۹۹**

ketabton.com - The Digital Library

# د تحریك یادښت

د افغانستان ملي تحریك د (۱۳۹۳ ل) کال په پیل کې له خپلو ګرانو هېوادوالو سره ژمنه کړې وه چې د دې کال په بهیر کې به (شل عنوانونه) بېلا بېل دیني، علمي، ادبي او ټولنیز اثار خپلې ټولنې ته وړاندې کوي. ملي تحریك دا ژمنه د یاد کال د کب پر (۲۸)مه نېټه پوره او د یوې پرتمینې غونډې په ترڅ کې یې شل عنوانونه علمي اثار هېوادوالو ته وړاندې کړل. ملي تحریك په یاده غونډه کې ژمنه وکړه چې د (۱۳۹۴ ل) کال په بهیر کې به انشاء الله د خدای (ج) په نصرت ټول ټال سل (۱۰۰) عنوانه بېلابېل علمي اثار ټولنې ته وړاندې کوي. طبیعي خبره ده چې دا اسانه کار نه دی، ډېر زیات زیار او زحمت ته اړتیا لري، خو ملي تحریك ټینګ هوډ کړی چې خپله دا ژمنه به هم د تېرې ژمنې په څېر عملی کوي. دا اثر چې ستاسو په لاس کې دی د همدې (سل عنوانونو) ژمنه کړو اثارو له جملې څخه دی، چې د چاپ جامه اغوندي. ملي تحریك هیله لري چې له دې اثر څخه به زموږ هېوادوال په زړه پورې ګټه پورته کړي. ملي تحریك له ټولو هغو لیکوالو، ژباړونکو، سمونچارو، مالي او معنوي مرستندویانو او چاپ چارو څخه چې ددې اثارو د چاپ په دې ټول بهیر کې یې یو بل سره مرسته او ملګرتیا کړې او دا فرهنګي بهیر یې بریالی کړی، د زړه له کومې مننه کوي او کور ودانی ورته وایي.

د هېواد د فرهنګ د ښېرازۍ په هیله

د افغانستان ملي تحریك فرهنګي څانګه

ketabton.com - The Digital Library

# دپیل خبرې

ښوونه روزنه چې اصطلاحآ د روزنیزو علومو په نوم یادیږي اوږده اوتاریخي لرغونتیا لري.

له همدې پلوه دا علم په منظم ډول ازمایښت او د روزنیزو مسائلومطالعه او څیړنه کوي او په اوولسمه پیړۍ کښې د یو تجربوي علم په توګه وپیژندل شوه.

ارواپوه پوه جان ازموس کمینوس لومړنی علمي شخصیت ؤ چې ددې علم په علمي کولو کښې یې ارزنده او ارزښتناکې منډې تړړې او خدمات ترسره کړې، تر څوچې ددې علم بنسټ یې کیښود. زمونږ په هیواد کښې د ښووني روزنې په برخه کې د لیسانس ترکچې زده کړې په کابل پوهنتون کې د همدې پوهنځي د تاسیس پر مهال رامینځته شوې.

د ښووني روزنې پوهنځی زمونږ په هیواد کې د غوره او د هغو پوهنځیو له ډلې څخه شمیرل کیده چې د امریکې متحده ایالاتو له څو پوهنتونو سره یې اړیکه درلوده.

ketabton.com - The Digital Library

افغانستان د هغو هیوادونو له ډلې څخه ده چې د فرانسې، ایـران او یو شمیر نورو هیوادونو څخه پکې دې علم تـه لـږه پوهنتـوني بڼـه ورکړل شوېده.

د شلمې میلادي پیړۍ په پیل کښې ښووني روزنــې څـو محـدودې ځانګې درلودې او په خورا چټکتیا سره یې پراختیا موندهِ او پوهان یې پدې وتوانیدل چې دې برخې ته لا هم پراختیا ورکړیاو د څـانګو شمیر یې تر شلو پورې ورسید.

همدا ډول پدې پیړۍ کښې زده کړې په چټکتیا سره پراختیا موندهِ او دا پراختیا د نړۍ په ټولو هیوادونو کښې پــه ځـانګړی توګـه پــه انګلسي ژبو غربي هیوادونوکې محسوسیده.

د غربي هیوادونو په مینځ کښې امریکـا لـومړنی هیـواد وو، چـې د شلمې پیړۍ په اوږدو کې په سمه او منظمه توګه دا زده کړه تعقیـب کړه. په همدې پیړۍ کښې جاپان هم د نـړۍ پــه هیوادونـو کښــې مخکښه ونډه درلوده او د لومړیو هیوادونو ونــډه وه چــې د ښــوونیز نظام په نوښت، غوښتنه او بیا کتنه کې یې ګام واخیست.

جاپان د شلمې پیړۍ په پیل کښې داسې لار پیداکړه چـې لـه لارې وکولای شول د ټولنیزو افکارو د ودې لپاره د مختلفو علومو د تجارت په برخه کښې، وړتیا لرونکي اشخاص د متخصصانو په واسـطه پــه فني او مسلکي توګه کسان وروزي.

شلمه پیړۍ د ماشین، نوې ټکنالوژۍ او پوهې پړاو دی، پدې پیــړۍ کښې په نظري او عملي علومو کښې پرمختګ د ستاینې وړ ده.

ketabton.com - The Digital Library

د پوهې د ورځيني پرمختتګ او ټکنالوژۍ ته لاسرسی په ځانګړې توګه نوې ټکنالوژۍ ته سبب شول، ترڅو پوهه او صنعت په چټکۍ سره پرمختګ وکړي او د همدې پيړۍ وګړي د کار له غوره اسانتياوو څخه برخمن شي.

خو له بده مرغه دا حالات نړۍ شموله نه دي، او اوسمهال ددې زمانې بيوزلي او لاستنګي خلک ځوروي.

د نړۍ ډېر انسانان شته چې د پوهې له ستر نعمت څخه بې برخې دي او جګړې د نړۍ د خلکو لمن نيولې ده چې ددې جګړو اصلي سرچينې هم همدا پرمختللي هيوادونه دي.

لومړۍ او دويمه ويجاړوونکې نړيوالې جګړې ددې بيلګې دي، چې د نړۍ د ميلونونو انسانانو ژوند يې واخيست او د نړيوالې ټولنې د ژوند هوساينه او ارامتيا يې له ځان سره يوړه. ښوونه روزنه د نورو علومو له لارې او لاسته راوړنو لکه ارواپوهنه، ټولنپوهنه، فلسفه، اقتصاد، سياست، ديني، احصايه او نورو څخه پخپلو ښوونيزو او روزنيزو فعاليتونو کې ګټه پورته کوي.

بيلګه: د ارواپوهنې علم او نورې څانګې يې پخپلو چارو کې د چلند، عواطفو، احساساتو او انګيزو په اړه ارزښتناکې خبرتياووې اخلي.

د ټولنپوهنې علم د ښوونې روزنې په وړاندې خپل ليدلورى داسې وړاندې کوي

که څه هم انسان د ښوونې روزنې له نظره مهم ګڼل کيږي. او د ټولنې سره يې جوړښت لامهم ګڼل کيږي. ښوونه روزنه يو پراخ علم

ketabton.com - The Digital Library

دی او له فرهنګي، سیاسي، اقتصادي، اجتماعي او نورو عواملو څخه متاثره کیږي او نه شو کولای څو د پورتنیو عواملو څخه پر ته ښوونه روزنه مطالعه او تر تحقیق لاندې ونیسو.

د روزنې موخه باید د شخصیت بشپړتیا، د بشر حقوقو ته درناوی او سیاسي خپلواکۍ واوسي ( د بشر حقوقو اعلامیه ۲۵ ماده )

د یادونې وړ ده چې د محترم پوهنوال ډاکټر میر اکرم میرزاد له علمي مرستې او همدا ډول د محترم احمد قدیم بلوڅ چې ددې اثر په سمون کښې راسره زیار ایستی مننه وکړم.

ketabton.com - The Digital Library

# د ژباړن خبرې

د نړۍ په ګوټ ګوټ کې هر انسان پرمختګ ته اړتیا او ددې پرمختګ لپاره یوازینۍ اسانه لار ښوونه روزنه ده، زه یې په هر ډ ګر کې اړینه او د همدې پرمختګ لپاره مهم فکتور بولم. ښوونه روزنه د ژوند په هره برخه کې رغنده رول لوبوي. د نړۍ په ډېری او پرمختللو هیوادونه کې د هر ډول پرمختګ لپاره ښوونې روزنې ته پوره پاملرنه کیږي او د افرادو د روزنې لپاره ښوونکي په دنده ګمارل کیږي.

نوموړی کتاب که څه هم د کابل پوهنتون درسي کتاب دی خو لوستنه یی د هر کچې لوستونکولپاره ګټوره ده. په نوموړي کتبا کې د بیلابیلو علوم پیژندنه او له ښووې روزنې سر ه یې اړیکې هم په روښانه ډول بیان شوې دي. ښوونې روزنې ته د ژوند په هره برخه کې اسلام، طب، ساینس، اقتصاد او ..... اړتیا لیدل کیږي او د علومو په پرمختګ او خپریدا کې هم ستره ونډه لري. له ښوونې روزنې پرته ژوند بیخونده وي، ښوونې روزنې او خپلې ژبې د حق ادا کولو دپته اړ کړم چې نوموړی کتاب پښتو ژبې ته راو ژباړم.

نوموړی کتاب د کابل پوهنتون استاد محترم پوهنیار سیداحمد شاه شریفي له خوا په دري ژبه لیکل شوی چې اوسمهال د اراو پوهنې پوهنځي کې د یو درسي کتاب په توګه تدریسیږي.

په پای کې د خوست پوهنتون محترم استاد پوهنیار حضرت محمد بهار څخه نړۍ مننه کوم چې د کتاب په سمون کې را مرسته وکړه کور دې ودان وي.

محمد اکبر نیازی

احمد شاه بابا مېنه ـــ کابل

ketabton.com - The Digital Library

## سريزه

اوسمهال دا هڅه کوو چې له نورو علومو سره د ښوونې روزنې اړيکه تشريح او پيداکړو ترڅو ددې علم ستونزمنه مطالعه اسانه او د روښانتيا په لور بوځو. ځکه چې دا علم دهغو ټولنيزو ارزښت لرونکو بنسټونوله ډلې شميرل کيږي. چې د انساني اړتياوو له کبله د ټولنيزو، اقتصادي، سياسي، تاريخي او فرهنګي بدلونونو په بهير کې رامنځته شوى او د وخت په تيريدو سره يې بدلون موندلى.

ددې اثر د ليکلو څخه موخه له زده کړې سره د مينه والو د اړتيا او په ځانګړى توګه د دې او نورو ټولنيزو او روزنيزو پوهنځيو د محصلانو لپاره د ښه درسي مواد د اړتيا پوره کول دي . ځکه چې دا موضوع په هغو درسي توکو کې شامليږي چې پدې پوهنځي کې ( د ارواپوهنې او روزنيزو علومو پوهنځي ) د ښوونې او روزنې د اساساتو په مضمون کې تدريسيږي.

هغه خيرنې چې په دې اړه ترسره شوې او تر کومه ځايه چې زه خبر يم پدې اړه په کوم نوم اثر نه دى ليکل شوى، امکان لري چې د ځينو کتابونو په فهرست کې به يوه برخه د ښوونې روزنې اړيکه د کوم بل علم سره تر عنوان لاندې وليدل شي. هغه طريقه چې پدې کتاب کې کې کارول شوې، د کتابتونو طريقه ده او د لويو او معتبرو پوهانوله سرچينو څخه را اخيستل شوې ده. په پيل کې چې د فلسفې او ښوونې روزنې ترمنځ اړيکه مو تر بحث لاندې ونيوله او په لنډه توګه د فلسفې د بحثونو په اړه ځانګړې خبرې وشوې وروسته مو د فلسفې څو تعريفونه وکړل د فلسفې او ښوونې روزنې

ketabton.com - The Digital Library

مفاهیم، د ښوونې روزنې او فلسفې د څرنګوالي پلټنه او له لارو څخه يې هم يادونه وشوه.

د فلسفې سره د ښوونې روزنې د طريقــو تــدوين او تقريــر شــرحه نسبتآ په ستونزمن ډول بيان شوې. همدا ډول د نورو علومو ســره د فلسفې عمده او اصلي اختلافات نظراندازي ده چې په پای کې موله مقايسوي لارې د ښوونې روزنې او فلسفې ترمنځ اړيکه پيدا کړه.

هماغه ډول مو چې د فلسفې څو تعريفونه وکړل پدې ځای کې مو د ښوونې روزنې څو تعريفونه وکړل او د لا وضاحت پــه موخــه اوددې بحث په پای کې مو د ښوونې روزنې او فلسفې د يوځايوالي د پلټنې درې طريقې وليکلې.

ددې اثر د بحث دويمه موضوع د ارواپوهنې او ښوونې روزنې تــرمنځ اړيکه ده، چې د تعريف او د اروپوهنې د طريقو لنډ تکرار پکې شوی ورپسې د اروپوهنې او ښوونې رزونې ترمينځ تــوپير واضــح شــو او پرلپسې ډول د روغتيا او سلامتيا څه ته وايــی او ســالم څــوک دی؟ په اړه تقريبآ مفصــل مالومــات وړانــدې او د روغتيــا ســاتنه (حفــظ الصحې) تعريفونه وړانــدې شــويدي. د بــل بحــث موضــوع مــو د ټولنپوهنې او ښوونې روزنې تــرمنځ اړيکــه وه چــې پــدې اړه مــو د لوستونکو په واک کې کره مالومات ورکړي دي.

د اقتصاد او ښوونې روزنې ترمنځ اړيکه ددې اثر د بحث بله موضــوع ده چې په اقتصاد د ښوونې روزنې اغيزې، برعکس او د يوې ټــولنې اقتصادي سرچينې مو توضيح او تشريح کړېدي.

ketabton.com - The Digital Library

د ښوونې روزنې او سیاست ترمنځ اړیکه هم تـر تفسـیر او توضـیح لاندې نیول شوېده.

د ښوونې روزنې او سیاست اړونـد مسـایلو لـه دوام وروسـته مـو د سیاست څو تعریفونو کړیده.

د دین او مذهب د اړیکې په اړه هم د نورو مسایلو په مینځ کـې ددې موضوعاتو په اړه بحث شوی. د سولې او ښوونې روزنې د یوځایوالي پیروانو بحث د زده کړې او پالنې د پروسې په بهیر کې اغیزناکـه او ارزښت څخه برخمن او تر بحث لاندې نیول شوی.د ښوونې روزنې، انسان پیژندنې او د احصایې او ښوونې رزونې تـرمنځ اړیکـې ددې اثر بل بحث دی.

د فزیولوژي او اناتومي او ښوونې روزنې ترمنځ اړیکه هم ددې اثر په بحث کې راغلې.

د سولې او ښوونې روزنې د یوځایوالي د بحث چاپیریـال چـې د زده کړې او پالنې د پروسې په بهیر کې اغیز ناکه او له ډیر ارزښت څخه برخمن ده بحث پرې شوی.

او ددې اثر په پای کښې هغه سرچینې چې ترې ګټه اخیستل شوې راوړل شوېدي

ketabton.com - The Digital Library

# ارزښت او اړتیا

د انسان او حتا د حیوان په ژوند کې هم ښوونې او روزنې مهمه او ارزښتناک رول لوبولی دی، او تر نن پورې ددې علم په اړتیا کې شک نشته د دې اثر اهمیت او اړتیا مینه والواو په ځانګړی توګه ددې پوهنځي محصلانو اود نورو ښونیزو او ټولنیزو علومو پوهنځیو لپاره د اهمیت وړ ده، ځکه چې دا موضوعات په ارواپوهنه، ښوونې روزنې او نورو پوهنځیو کې تدریسیږی چې د محصلانو لپاره د ښو درسي تو کو په توګه جوړیدای شي. توکي او دکار طریقه: د تحقیق لارې د کتابونو له مطالعې څخه موندل کیږي. او د توان تر بریده هڅه شوې چې له معتبرو علمي سرچینو او اخذلیکونوڅخه چې د ښوونې او روزنې په هکله دي ګټه پورته شي او دا څیړنه لا بډایه کړي.

**تېرو اثارو ته کتنه:** ددې موضوع اړوند تراوسه کوم علمي اثر ندی لیکل شوی. خو د ځینو کتابونو په لړلیک کې له نورو علومو سره د ښوونې روزنې د اړیکه په اړه مطالب لیکل شوي.

ښوونه او روزنه: ښوونې او روزنې په پیل کې د اخلاقو او سیاست مهمه برخه جوړوله او پوهان له فلسفې څخه ددې علم خپلواکیت دوه شیان ګڼي:

ketabton.com - The Digital Library

لومړی: دا چې د فلسفې سیستیماتیکه وده یانی کله چې علومو د وخت په تیریدو سره له فلسفې څخه جلا شول نو هرعلم ځانته ځانګړې موضوع او لاره غوره کړه.

دویم: د نویو اروپایي پرمختګونو څرګندېدل اوټول هغه عقلي او فرهنګي فعالیتونه چې د پنځلسمې پیړۍ په پای او شپاړسمې پیړۍ په پیل کی شوي د رئسانس د دورې یا د نوی ژوند په نوم یادوي، څکه دغه بدلون ددې لامل شو ترڅو دټولنې اړتیاوې لاپسې زیاتی کړي او ددې احساس پیداشو چې باید مختلف فني او مسلکي افراد په مختلفو برخو کې دټولنې د غوښتنو سره سم وروزل شي. داړتیاوو زیاتوالی او د هغوی ځانګړتیاوې د ښوونې او روزنې ترمینځ د بیلوالي مهم لاملونه دي. دې حالت جوته کړه ترڅو تعلیمي موسسات، برنامې، ښوونیز او روزنیز وسایل دعلمي قوانینو او اصولو پر بنسټ جوړ او کارونې لپاره چمتو کړي. پدې وخت کې د روزنیزو علومو ځینو پوهانو د مهمو ښوونیزو مسایلو لکه تعلیمي پلان، تعلیمي تجهیزاتواو درسي میتودونو ته پام اړولئ وه. د هغو پوهانو له ډلې څخه چې پدې برخه یی کې ډیر اوچت خدمتونه ترسره کړي جان اموس کامینوس نومیږي، هغه نه یوازې دښوونې او روزنې خواره نظریات راټول کړل بلکې پخپل نوښت سره یی هغه ترتیب ، تنظیم او پرمختګ ورکړ، او پدې وتوانید چی د ښوونې او روزنې د علم بنسټ کیږدي. دیادونې وړ ده چي ښوونه اوروزنه پخپل خپلواکیت له نورو علومو سره نږدې اړیکې لري او دغه اړیکې له ټولو علومو په ځانګړی توګه د ټولنیزو علومو او اروا‌پوهنې سره دي.

ketabton.com - The Digital Library

## د ښووونې روزنې او فلسفې ترمنځ اړیکه

دعلومو له پرمختګ څخه څرګندیږي چې ځینی علوم د وخت په تیریدو سره له فلسفې څخه جلا شوي، له دې پلوه په ځینو کتابونو کې فلسفه د علومو مور یا هم پلار ګڼل شوې ده. فلسفه اوښووونه روزنه دوه خپلواکې څانګې دي چې فلسفه د نړۍ، انسان، معرفت او ارزښتونو په اړه بحث کوي - او ښوونه روزنه د زده کونکو، ښوونکو، زده کړو، توکو، وسایلو او د تدریس له طریقو سره کار لري. فلسفه له دوه لاتیني کلمو( فیلیا )او(سوفیا) څخه اخیستل شوې ده چې فیلیا د مینې او سوفیا د پوهې په مانا سره ده. بنآ فیلو سوفیا د پوهې سره مینه ده وروسته ددې کلمې استعمال کم شو او پر ځای یی د فلسفې، فیلسوف او فلاسفې کلمې استعمالیدې، د تاریخ په علم کې دغه کلمه په ټوله مانا سره دیو فرد، ډلې، ټولنې او یا یوې دورې دلګښتونو پورې اړوند کارول شوې ده.

د بشر د ژواندانه په لومړیو کې دوه شیان د پاملرنې اوپلټنې وړ وو، یو پیښې او د عالم چارې یانې چاپیریال چې هغوی پکې ژوند کاوو، دهغه په څرنګوالي او اصلي علت باندې پوهیدل او بل یې قاعده او دستور یانې هغه لار چې وکولای شي هغو د نیکمرغۍ په لور بوځي. هغه څیړنې چې ددې دوه مهمو مسئلو په اړه ترلاسه شوي د فلسفې یا حکمت په نوم یادیږې. او هغه چا چې دا څیړنې کولې د فیلسوف یا حکیم په نوم یادېده نو بنآ دا ټول بشري مالومات د حکمت د امر په پیل کې شامل وو. د خپلودوه ګونو موضوعاتو په

ketabton.com - The Digital Library

مناسبت په نظري او عملي حکمت ويشل کيدل، د وخت په تيرېدو سره انساني ذهنيت پراختيا ومونده او دغه ذهني وده پـه هغوچـارو چې موضوع يی ستونزمنه وه نوره هم زياتيده. له همدې کبله دکـار، پلټنې او مطالعې الزاميت دپوهانو په مينځ کې احساسېده. اولـه بـل پلوه د ا ټکی ځرګند شو چې د مطالعی موضـوعي چـارې دوه ډولـه دي. يو يې هغه چې نسـبتآ د ثـابتو قوانينـو تـابع وي او دهغـوې د ځرنګوالي موندنه د تجربې،حس، او عقلي استدلال له لارې ترلاسه کيږي اوبله ډله يې دا ستاينه په پوره روښانتيا سره نلري او وروسـته پدې تصميم ونيول شو چې لومړی د علومو دبحث موضوع او دويمه ډله يې دفلسفې د بحث موضوع وټاکل شي.

## د فلسفې بحثونه

دلته لنډه او ځانګړې توګه د فلسفې په بحثونواجمالی نظراچوو.

دعالم، پيدايښت اود هغـوی نظـم  د فلسـفې څيړنـه  او د لانـدې مطالبو ځرګندونکې ده. عالم، فضا، وخت، د ژوند ځرنګـوالی، د ودې فلسفه او ايا دغه عالم د کـومې مـوخې او مقصـد درلـودونکی دی؟ د فلسفې په ځانګړې اصطلاح کې د دغو مطالعاتو ټولګه د څيړنيزې کسمولوژي په نوم ياديږي. کوسموس په يوناني اصطلاح کې عالم اوپه اوسنۍ اصطلاح کې يونيورس(کايناتو)  ته ويل کيږي د موجـود يا د موجوداتو پورې اړوند بحثونـه چـې عقايـد، مـاديون مـونيزم، معنويون، ثنويون او جمعيون دي پکې شامل دي.

ketabton.com - The Digital Library

د اروا په اړونده څېړنه کې لاندې مطالب شامل دي:

د اروا په اړه څېړنې- د اروا اوجسم ترمینځ اړیکه- د خپلواکۍ هـوډ او نور... چې دې بحث ته په فلسفي اصطلاح کې اروایي فلسفه وایي.

د حکمت او پېژندنې اړونده نظریه لاندې موضـوعات پـه بـر کـې نیسي.

د پوهې او پېژندنې سرچینې- د پوهانو او تجربه لرونکـو نظریـې او د پېژندنې سموالی د دې برخې د واقیعونو اوعملیونو له نظره د فلسفې په اصـطلاح کـې اپیسـتېمولوژي ګڼـل کیـږي. د بشـري ژونـد وروستنۍ موخه او هدف څـه ده؟ لانـدې څېړنـې پکـې شـامليږي اخلاقي مسائل اودهغوی ارزښتونه، ښکلا او مذهب.

میتا فزیک یا ماوراَ الطبیعه: د فلسفې د مطالعې په وروستیو کلونـو کې د بشري ژوند له پلوه او همـدا ډول د شـیانو د تـاثیر لـه نظـره انساني ژوند ډېر ارزښت پیداکړی وو، او میتا فزیکي مسـائل لکـه د حقیقت څرنګوالی- خدای(ج) او عالم ته لړه پاملرنـه کیـږي. پـدې مانا سره د فلسفې کلمه د میتافزیک څخه لوییږي او دا ټول بحثونه تر دې چې منطق، اخلاق او ښـکلاپېژندنه هـم پکښـې شـامل دي متافزیکس دانسانانو پوهه د ماورا الطبیعی په اړه پداسې څېړي چې مونږ پرې حقیقت ته رسیدلای شو. اپیستېمالوژي د انسانانو د پوهې مبدا، طبیعت، فکراو اړوند موضوعات تر مطالعې لاندې نیسي.

ketabton.com - The Digital Library

**د فلسفې پیژندنه:** فلسفه د اجتماعي چټکتیا د مانا له پلوه ژور او مختلف تعریفونه لري او هر چا له خپل لیدلوري تعریف کـړې ده. ځینې یې له لنډه توګه پداسې ډول را اخلو.

۱ بحث د غرض او ارزښت له نظره د ژوند تعبیر او تفسیر اویا هم د فلسفې ځانګړې او مطلقه موضوع جوړوي، یانی که چیـرې دانســان ژوند په کلي او ازمایښتي ډول تر مطالعې لانـدې ونیســونو فلســفي بحث ته داخلیږو.

افلاطون (۴۲۸- ۳۴۷ ) د میلاد څخه وړاندې یوناني پیژندل شــوي فیلسوف پخپل پیژندل شوي کتاب جمهوریت په څلــورم څپرکــي او ۴۲۶ مخ کې داسې وایي:

فیلسوف هغه څوک دی چې تل څارونکی او دحقیقیت په لټه کې وي، هغه فلسفه دا ډول راپیژني. هغه موضوع ده چې دعلمــي طریقــې او اصولو پکار وړلو سره کولای په نړۍ باندې چې انسانان پکې ژونــد کوي او د هغوی د ژوند اړوند ټول مسایل حل او روښانه کړي.

هربارت اسپنسر(۱۸۲۰- ۱۹۰۳ ) فلسفه د وحدت پیژنــدنې دهغــو علومو په مقابل کې چې وحدت نلري متنوع ده تعریف کړی.

امیل فاکه وایي : فلسفه د شیانو د چاپیریال عمومي څیړنه ده، یانی فلسفه کیدای شي دا څرګنده کړي چې د اسبابو او لومړنیــو شــیانو عامل څه دی؟

فلسفه یو لړاستدلالي بحثونه دي چې غرض یې دحقیقي موجوداتــو د وجود علل او دهغوی د وجود څرنګوالي مرتبه ده.

ketabton.com - The Digital Library

ــ فلسفه د یو لړ مسایلو څخه چې عقلي استدلال، قیاس او دهغوی د وجود د حکمونو او عوارضو څخه دي خبرې کوي.

ــ فلسفه اساسي علم دی چې د ټولوعلومو بنسټ ایښودونکې ده. (کاپیستون) ــ فلسفه د شیانو په برسیره کولو کې یانې څه ډول چې دي د بشر په قدرت سره دي ــ فلسفه د کانت په تعبیر ټول هغه شیان دي چې مونږ یی دعقل د ادعا او دتجربې د مداخلیت څخه پرته لرونکي یو.

ــ فلسفه د برګسن په تعبیر: دکیفي وخت وجداني شهود ( وخت او ځنډ ) دي.

ــ فلسفه د اګوست کونټ له نظره د موجوداتوټول قواعد، قوانین، اصول، دمبادي او عملي علوموطریقه او تحصیلي فلسفې د علم د زده کړې لاره ده.

ــ اپلاطون یوه په زړه پورې وینا په یاد پریښې، نوموړی وایی فیلسوف د پوهې مینه وال ته وایي (په پوهه مین ) هغه څوک چې په پوهه مین وي فیلسوف بلل کیږي. فلسفه د حقیقت موندنې لپاره څیړنې کوي. د فلسفې بحث او بیان د عقل او استدلال پر بنسټ ولاړه دی، او په موجوداتو کې دانسان لوړتیا هم د هغه د عقل په تناسب سره ده. د فلسفې بحث د چاپیریال وجود ده، بناً ویلی شو چې د ټولو علومو بنسټ فلسفه ده. فلسفه د ربنتینولۍ موندلو په لټه او هڅه کې ده چې خپله فلسفه د نفس د بشپړوالي لامل ګرځي اوپه پراویز ډول یې دغوره والي په لور رسوي او ددې وړ ده چې اشرف المخلوقات اوسي پخپل ذات کې په مادي بعد تکیه کول انساني نه

ketabton.com - The Digital Library

بلکه ژوند پدې کې ده، چې انسان په عقلي بعد کې، پرمختګ وکړي یانې په عقل تکیه ولري د علمي حکمت ځانګه چې دقیقاً د انسان له روزنې سره اړیکه لري اخلاق دي انسان چې د هر څه غوښتونکی وي کولای شي په اخلاقي عمل کې یی تر لاسه کړي.

## دښوونې روزنې اوفلسفې ترمنځ اړوند مفاهیم:

دښوونې روزنې او فلسفې ترمنځ د اړیکې پلټنې په څرنګوالي باندې رڼا اچوو.

لومړی: که روزنه یو څیز وګڼواوتعریف یې کړو نو هغه وخت کولای شو د فلسفې بې شمیره مسایل او موضوعات په خپل وار سره مطرح او په یو ډول د تحقیق څخه پایله لاس ته راوړو.

دویم ـ امکان لري چې فلسفه یو څیز وګڼو او د روزنې بې شمیره مسایل یو یو د فلسفې سره وسنجوو اوترمنځ یې اړیکه پیداکړو.

دریم ـ پدې طریقه کې زمونږ کړنلاره پدې ډول ده، چې د فلسفې عمده اواصلي مسایل او موضوعات په څو شمیرو کې روښانه کړو. په همدې ډول د ښوونې روزنې اصلي او مهم مسایل او موضوعات په بیلابیلوعنوانونو کې ځای پرځای او وروسته د فلسفې هر بحث دښوونې روزنې د بحث سره یوځای تر تحقیق لاندې ونیسو او ترمنځ یی اړیکه پیدا کړو. څلورم ـ فلسفه د نړۍ په هکله فکر کول دي او انسان پخپله د نړۍ موجود دی. همدا انسان ده چې د نړۍ په اړه فکر کوي سربیره پر دې، فلسفه د انسان څخه پالنه کوي یا په بل عبارت د فلسفې سرچینه انسان ده. پدې ډول انسان

ketabton.com - The Digital Library

پخپله د فلسفې موضوع واقع کيږي، نـو ددې ليـدلوري لـه مخــې د فلسفې او روزنې دواړو پاملرنه د انسان په لور ده. هرانســان ديــوې ځانګړې فلسفې لرونکی دی او فلسـفه ددې پـه لټـه کــې ده چــې انسان څه ده؟ اوڅه ډول کولای شي واوسي چې بايد واوسي.

د روزنيزې فلسفې محور دانسان نفـس دی. او د ښـوونې او روزنــې اصلي او رسمي مرکزونه ښوونځي دي نوځکه د فلسفې مخاطـب او اداري نظرياتوپه اوريدلو او عمل کولو مديران، ښوونيز مسـئولان او ښوونکي دي. ځکه چې د فلسـفي بحثونـو څخـه يـوهم ارزښـت پيژندنه او په ځانګړی ډول اخلاق دي. په ښوونيزو فلسـفي بحثونـو کې اړينه ده چې اخلاقو ته له نظري او وروسته له عملي پلوه اشـاره وکړو.

د فلسفې او ښوونې روزنې ترمنځ د اړيکې جوړولو اوبيان طريقې

دفلسفې او ښوونې روزنې ترمينځ د اړيکو جوړولو او بيـان لپـاره لـه لاندې لارو څخه کار اخلو.

الفـــ د نظير (بې مثاله) مسايلو څخه، نړی، معرفت، ارزښت او ښکلا پيژندنه، خير او شر، خپلـواکي اړيکـه، انسـان پيژندنـه او دهغـوی نظرونه طرح کيږي او د ښوونې روزنې سره د هريو تر څيړنې لاندې نيسو.

ب ـ دفلسفې او ښوونې روزنې د اړيکــی او مطـالعې دپلټنــې لپـاره دويمه څيره پداسې ډول چې د يو ښوونيز نظام د پروسې عناصر په تفکيک سره مطرح شي او فلسفې سره د هر يو اړيکه جلا جـلا تــر

ketabton.com - The Digital Library

بحث لاندې ونيول شي پدې صورت کښې د يو روزنيز نظام عناصرچې هدف، برنامه، طريقه، وسيله او ازمايښت دي؛ هريو يې طرحه کوو او اړيکه يې له فلسفې سره تر څېړنې لاندې نيسو که چيرې څېړنې او مطالعې ته په همدې ډول دوام ورکړو نو بحث به مو نور هم اوږد شي.

ج ـــ د پلټنې دريم شکل دادی چې فلسفه د خپلو تعريفونوڅخه د يوتعريف پربنسټ يوې خواته ږدو او اړيکه يې د روزنې سره تر څېړنې لاندې نيسو.

د ـــ دې ته په کتو سره چې فلسفه اوروزنه انساني مسائل دي پخپله انسان چې د نړۍ موجود دی محور ونيسو په ټوله کې کله چې انسان ته د ځمکې پر سر وګوره نو وبه وينو چې انسان يوه اړيکه ده.او دا اړيکه اوبو، هوا ،خاوره، لمر، حمام له ځناورو سره اوپه پای کې نوروانسانانو ته د اړتياوو يوه ټولګه ده. له انساني غوښتنو څخه ځينې غوښتنې تر دې کچې شديدی وي چې د دوی د ژوند کولو سبب ګرځي او که چيرې دغه غوښتنې يې پوره نشي نو کيدای شي چې دا ډول انسانان خپل ژوند د لاسه ورکړي.

دبيلګې په توګه: که، اوبه هوا او يا هم رڼا په انسان قطع شي او په ژوند کې ورته ونه رسيږي نوطبعاً دانسان ژوند ورسره پايښت مومي، که چيرې زمونږ ليدلوری انسان ته له دې زاويې څخه وي نوويلی شوچې انسان يو کمزوری اوضعيف موجود دی.

هـ بل عمومي ليدلوری چې دانسان په اړه موجود دی هغه که چيرې د ژوند عوامل لکه هوا او اوبو په اړه پوهه ترلاسه کړو، وروسته

ketabton.com - The Digital Library

دا فکر وکړوچې انسان په دیګ بخاراو بالون کی د هوا ساتنه کوي، د بندونوپه وسیله اوبه ذخیره کوي او سوند د موادو څخه په ګټه اخستینې سره له الکتریستې (بریښنا) څخه روښنایي ترلاسه کوي د ځمکې له کرې څخه وځي او دبالون د ذخیره شوې هوا څخه په استفادې تنفس کیږي، او ددې وړتیا لري چې د بحرونو څخه تیل استخراج کړي د وراثت په علم کې پوهه درلودل دا توان لري چې کرنیز محصولات او نور نباتات څو چنده زیات کړي ویلای شوچې انسان یو توانمند موجود ده او کولای شي طبیعت د خپل ځان تابع کړي.

**څرنګه چې ایریخمان ویلی دي**

تولنیز او طبیعي علوم مونږ ته ددې امکانات برابروي چې په طبیعت او تولنې برلاسی شواو دتولنې پرمختګ په شعوري ډول رهبري کړو، د فلسفې موضوع پیدایښت، معرفت او ارزښت پیژندنه ده په پیل کې دښوونې روزنې موضوع زدکړه، لوستل، لیکل او شمیرل ده، په پورتني پوړکې، د ښوونې روزنې موضوع د پرمختګ پالنه، ذهني پرمختیا، فردي استعدادونه اوتولنیزه پالنه ده. که فلسفي اوښوونیز روزنیز مفاهیم په عمومي ډول په نظر کې ونیسو نو دلته پوښتنه راپیداکیږي چې ایا لومړی یې باید د فلسفې څخه پیل کړو اوکه د فلسفي کتنو پربنسټ دښوونې روزنې لاره هواره کمیت او کیفیت یی روښانه کړو.

یا برعکس که لومړی یې باید له ښوونې روزنې څخه پیل کړو. او وروسته یې فلسفه پیدا کړو؟ که دا پوښتنه د ښوونې روزنې له

ketabton.com - The Digital Library

پرمختللو فیلسوفانو او د فکر خاوندانو څخه وپوښتو نو په وړاندې به یی ځواب دا وي، چې هر ډول روزنیز تدابیرله ځان سره فلسفه لري . د یادې پوښتنې له ځواب څخه دا پایله په لاس راځي چې ګویا فلسفه دښوونیزومسائلو تعلیمي سازمانونو پرسر دتاج حیثیت لري او فلسفه د ښوونې او روزنې څخه وړاندې او روزنه ورپسې ده فلسفه دپیدایښت په اړه بحث کوي دپیدایښت ښوونیز ښوونځي او اړوند مسائل بیلابیلو لیدلورو د رامینځته کولو لپاره زمینه برابروي، او دغه حقیقت پخپله ښوونیز عقلاني امر دی، فلسفه د ځانګړو موضوعاتو سره کار نلري او موضوع یې وجود ده او دوجود موخه تر ټولو دعامو مسائلو په بر کې نیول دي په همدې ډول فلسفه د معرفت، دمعرفت څرنګوالی، دمعرفت ډولونه، دحقیقت سره د معرفت اړیکه او د معرفت د ارزښت سنجي په اړه بحث کوي. اوپدې هڅه کې ده چې انسان د حقیقت په لاس ته راوړلو او د نفس استکمال ته پاملرنه وکړي دغه بحثونه په مستقیم ډول د ښوونې او روزنې سره کار لري

ـ ښوونه روزنه د زده کړې سره کار لري. او زده کړه هم د هماغه دمعرفت ترلاسه کول دی پدې برخه کې باید ښوونکی په بشپړ ډول د معرفت په څرنکوالی اوماهیت باندې پوه وي. دښوونیز سازمان بله موخه په ټولنه کې د سالمو افرادو د مونډلو لپاره دټولنیزو خصایصو پالنه ده. دفلسفې بله موخه د پیدایښت او معرفت پیژندنې سربیره ارزښت پیژندنه ده. په ټوله کښې د ارزښتناکو مسائلو له جملې څخه هنر اوښکلا ده.

ketabton.com - The Digital Library

## هنر څه ته وایی؟

په فلسفه کې دا ویل کیږي چې دهنرمندانو ښوونه او د هنرمند روزنه هغه کارونه دي چې ښوونځي او ښوونیز بنسټونه يې په غاړه لري چې له ډلې څخه يئ هنر او شاعري ده. شاعران په ټولو قومونو او ټولنو کښې دټولنیزو افکارو په رغونه کې تر ټولو ستره او ارزښتناکه ونډه لري په پوره پام سره له یوې داسې دورې څخه یادونه کولای شو چې د شعر ویل پکې دریدلي وي په تاریخ کې دشعر ترڅنگ نثر هم د فردي ژوند او دټولنې د فرهنگ په ساتنه کې رغوونکی رول لوبوي. اونور هنرونه لکه، نقاشي، فلم جوړونه، حکاکي، دگرافیک کاروونه، مجسمه جوړونه، ډرامه جوړونه، نڅاګانې اوپدیدې. دا هر یویې پخپل ځای ارزښت لري دهنر دا ټولې څانگې په ښوونځیو اود لوړوزده کړو په موسسو کی ښوول کیږي اما د دې ټولو هنرونو تر څنک فلسفه هغه هنر دی چې په ټوله کې دروزنې مسئلی ته سازمان او مانا وربښي.

نوکولای شو ووایو چې روزنیزه فلسفه د ارونو مشخصه بیانونکې، د موخو ټاکوونکې او د روزنیزو طریقو څرګندوونکې ده.

د پیدایښت فلسفه د ټولنیز ژوند، بنسټونو، موسساتو(institutions) او هغه اړیکې چې په وسیله يې خلک په سازمان شوو ډلو کې یو دبل سره راټولیږي په اړه ده. دا ډول اړیکې او موسسات چې کورنۍ ، دولت، قانون، مجازات، ښوونه روزنه، دین،اقتصادي طریقې او داسې نور چې ددوی په قلمرو کې د فلسفې طریقه مشخصه او پیاوړې ده اوغرض يې په نړۍ کې د پرمختګ په لور تلل دي

ketabton.com - The Digital Library

دارزښت په اړه واقیعـات او پلټنــه د موسسـاتو لـه مانـاوو ده. د لا روښانتیا لپاره یی بیلگه را اخلو، فرض کړئ چــې مـونږ ښــوونې او روزنې ته دیوې ټولنیزې وسیلې په سترگه گورو، په سر کې اړینه ده چې اړوند واقیعتونه، لکه تحصیلی پړاونه، اداري سیستمونه، مالي او حسابي چارې، دښوونکو استخدام او ټولې هغه ماشینی بنې چې په یوښوونیز او روزنیز نظام کې شتون لري تر بحث او څیړنــې لانــدې ونیسو. خو فلسـفه غــواړي ددې ســربیره پــدې پــوه شــي چــې د ټولودستگاو ترشا هغه موخه چې موجوده ده څه ده؟

او هغه موخه د فرد او ټولنې د ژوند لپاره څه خدمت کولای شي؟ یــو ځانگړی نظام دیوښه ژوند، ښار، د شخصـیت وده یـا تـر دې چــې معنوي ارزښتونه په کومې مانا سره پیژني؟ ایا دغه دستگاه په ټوله کې یوه موخه که یوه عقیده او یاهم یوه هیله ده؟ اوکه داسی وی نو ایا دغه هیله او نظریه یې په دومره هڅو ارزي؟

## دفلسفې او نورو علوموترمنځ عمده او اصلي اختلافات:

په هر علم کې ځانگړې موضوع تربحث لاندې نیـول کیـږي چــې پیژندنه ، معرفت او تفصیل یې اوږدوالی مومي. ډیر علـوم ځـانگړي کیږي اما فلسفه هڅه کوي چې ټولې نړۍ ته په یو ډول وگوري. اود ځانگړو علومو پایلې په یوې عمومي او جامع مطالعې سره راټولې او ترتیب کړي.

علوم هغه فرایض کاروي چې پخپله علمـاوو تـر مطـالعې او پلټنــې لاندې نیولي وي. دا ډول مفاهیم باید په فلسفه کې تحلیل شي چې

ketabton.com - The Digital Library

ایا دا ریښتنی دي که ناسم، مونږ د طبیعت د څرنګوالي او اساس په هکله پلټنې کوو چې د فلسفې موخه هم همدا ده.

لومړنی فلسفه د وجود( طبیعت او د نړۍ لومړنی او اصلي څرنګوالی) او معرفت پیژندنه ( طبیعت او دانساني معرفـت څرنګـوالی ) دي د ډیرو ستونزو او مسائلو حل لومړنیو اصولو ته مراجعه ده چې فلسفي تفکر پرې نایلیږي او کولای شي پیدا یې کړي.

مثلاً هغه وخت باید سخت تصمیمونه ونیسو کله چې د سیاسـي او دیني مسائلو په لومړنیوو اصولو باندې پوه او د هغوی مفهوم راتـه روښانه شي چې بیا د بیلابیلو نظریاتو په رڼا کې په همـدې مسـایلو باندې فکر وکړو.

## د فلسفې او ښـووني روزنـې تـرمنځ د مقایسـوي اړیکـې موندنه:

ــــ فلسفه دعقلي علومو له ډلې څخه ده .

ــــ په فلسفي بحثونو کې ژور فکر وجود لري.

ــــ د فلسفې موضوع د پیدایښت پیژندنه ده.

ــــ معرفت د فلسفې وړ بحث د عمده مسایلو له ډلې څخه ده.

ــــ د معرفت اعتبار په فلسفه کې یو حس ګڼل کیږي.

ــــ عقل ګرایي د هغه بحثونو له ډلې څخه ده چې په فلسـفه کـې طرحه کیږي.

ــــ د فلسفې د بحثونو څخه یو هم ارزښت پیژندنه ده.

ketabton.com - The Digital Library

ـــــ ازاده فلسفه د معارف اشرافو ته علوم دي.

ـــــ دعمده موخوڅخه يې د علاني ځواک پالنه ده.

ـــــ دنيوکيز تفکر موخه ښوونيز اوروزنيز نظام ده.

ـــــ دپيدايښت پيژندنه د ودې مهم عامل دی.

ـــــ په ښونيزو موسساتو کې ډير ټينګار پر دې دی چې د پوهې ترلاسه کول ممکن دی.

ـــــ په ښونيزو او روزنيزو ځايونوکې له حواسو څخه په ګټې اخيستنې ټينګار کيږي.

ـــــ پوهنيز او رياضيکي مسائل دعقلي استدلال په واسطه ثبوتيږي.

ـــــ په تربيتي خپرونو کې ارزښتناکه مسائل خوراډير دي. مثلاً: دانسان ښکلا،په انساني صفاتو دبشراو ټولنې اخلاق، دود، ځانګړتياوې دهغوی ښکلا او نور دي.

ـــــ خدای پيژندنه د ښوونې روزنې يو له بنسټيزو موضوعاتو څخه ده.

ـــــ په فلسفه کې عملي اونظري مسائل دواړه مطرح کيږي.
ـــــ په فلسفه کې د پيدايښت اوهغه شيان چې نه وي اړوند مسائل تر بحث لاندې نيول کيږي. ـــــ دپيدايښت له عوارضو څخه د علت او معلول موضوع ده.

ketabton.com - The Digital Library

ـــــ فیلسوفان د مادي او معنوي اړوند مسائل مطالعه او بحث پرې کوي.

ـــــ فلسفه د حقیقت د کشف په لټه کې ده.

ـــــ د فلسفې د بحثونوڅخه یو هم د ټولنې د ایډال انځور ده.

ـــــ په سیاسي فلسفه کې د حکومتونو ډولونه جوړیږي.

ـــــ په فلسفه کې د رښتیا او درواغو قضیو په اړه مطالعه او څیړنه تر سره کیږي.

ـــــ په اسلامي ښوونه او روزنه کې تړاو.

ـــــ ښوونیز او روزنیز نظامونه د نظري او عملي موضوعاتو لرونکي دي د زده کړې په پروسه کې د پوهې موضوع شتون فرض ګڼل کیږي.

ـــــ نزیکی قوانین عموماً لوړې اړیکه څرګندوي.

ـــــ دښوونې روزنې په برخه کې مادي اومعنوي اړتیاووته پاملرنه کیږي.

ـــــ ښوونه روزنه هم دحقیقت په تعقیب کې ده .

ـــــ په ټولنیزو سازمانونو او علومو او همدارنګه روزنیز علوم،ایډیال ټولنه مطالعه کوي .

ـــــ د ټولنې دګټورو اوسالمو افرادو روزنه د ښوونې او روزنې دمهمو اهدافو له ډلې څخه ده دښوونځیو په برنامو کې دحق او باطل میعارونه معرفي او ښوول کیږي.

ketabton.com - The Digital Library

ـــــ دنظري اخلاقو بحث د فلسفې دمهمو او ارزښتناکو بحثونو لـه ډلې څخه ده.

ـــــ دزیاتوالي په فلسفه کـې د سـترګو او ذهـن موافقـت مطـرح کیږي.

ـــــ دخپلواکۍ مفاهیم ، استقلال ، تجربه ، اړتیاوې ، زور او واک پـه فلسفه کې مطرح کیږی .

ـــــ( دفلسفې ستاینې )دپوهې دمینوالو پر مبنا ده.

ـــــ په فلسفه کې د ریښتنی پوهې ترلاسـه کولـو امکـان مطـرح کیږي.

ـــــ په ښوونه روزنه کې د ،اخلاقي روزنه، اخلاق څه دي، بااخلاقـه څوک دی، د کورنې سره څه ډول چلند وشي، ټولنیز چلند بایـد څـه ډول وي، ښوونه روزنه د پیدایښت په ښکلا ټینګار کوي او په اړه یی بحث کیږي.

ـــ ښوونیز نظام تل د سترګو او ذهن سره کار لري یعنی دسـترګو او ذهن مسائل د زده کړې د پروسې یوه برخه ده.

ـــــ هر یو، خپلواکي، فعالیت، اوتجربه هغه ټکي دي چې ښـوونکي پخپلو طریقو کې ورسره مخامخ کیږي.

ـــــ پوهه او هوښیاري د ښوونې روزنې موخه او موضوع دي.

ـــــ د زده کړو په پړاوونو کې دپوهې اعتبار د منلو وړ ده.

ketabton.com - The Digital Library

د فلسفې دهرې موضوع څخه چې يادونــه وشــوه دښــوونې روزنــې سره په مستقيم يا غير مستقيم ډول اړيکه لري.

د ښوونې او روزنې پيژندنه

ښوونه او روزنه هم دفلسفې په څير د خپلو پيچلو او لويو مسائلو لــه کبله ډول ډول تعريفونه لري چې ځينې يې په لاندې ډول بيانو:

ـــــ ښوونه روزنه يو دومداره، جــامع او دټولــو لپــاره فعاليــت دی د انسان او ټولنې د ودې د فرهنګ شتمني ده.

ـــــ هغه لاسته راوړنه ده چې د ترلو او منظمو علومو څخه ترلاســه شوې او په وسيله يې عدالت ټينګيږي.

ـــــ دښوونې روزنې نظام : (د کلي سازمان جوړونه ده چې په وسيله يې د ټولو ډولونو او پړاونو پالنه او ښوونه دخلکو لپاره برابريږي.

ـــــ ښوونه روزنه د راتلونکي برخليک لپاره بنسټيز عامل ګڼل کيــږي او بايد انسانان په مختلفو وختونو کې د ټولنيزو بدلونونو لپاره چمتــو وي.

ـــــ دانسان د چلند د پرمختګ ټوله ايزې مرحلې ته ښوونه روزنــه وايي.

ـــــ ښوونه روزنه ټولنيزه مرحله ده، چې انسان پکې ټولنيزې وړتيــا او فردي ودې ته رسيږي دغه مرحله د بنسټونو په وسيله لکــه ، پــه ښوونځي، مدرسه، پوهنتون او داسې نورو کې تر سره کيږي.

ketabton.com - The Digital Library

ـــــ ښوونه روزنه هغه سازمان یافته او ترلې زده کړه ده، چې د یو لړ علومو، مهارتونو اوهغه تفاهمونه چې د ژوند دټولـو فعالیتونولپـاره ارزښتمند دي د لیږدونې لپاره جوړه شوې.

ـــــ هغو بدلونونه ته چې انسان یی دخپل نفـس یـا نـوعې څخـه ترلاسه کوي روزنه ویل کیږي.

ـــــ زده کړه او پالنه د ښوونکي او زده کوونکي د ګډو اعمالواو چلنـد منظمه ټولګه ده.

ـــــ روزنه یانې پداسې ډول د یو فرد چمتو کول چـې نـه یـواځې د چاپیریال سره توافق پیدا کړي بلکې په هغه کې داخـل او تصـرف یې کړي او پایله یې د ځان او ټولنې د تل انکشاف او پرمختیا سبب وګرځي.

ـــــ ښوونه روزنه د تجربې بیـا جوړونـه او سـازمان ورکولـو څخـه عبارت ده پدې موخه چې دتجربــې مانـا پراختیـا ومـومي او فـرد دراتلونکـو تجربـو دلارښـوونې او کنتـرول لپـاره ځـواکمن کـړي.
ـــــ ښوونه روزنه د سم قضاوت او ځواک څخه عبارت ده.

ـــــ ښوونه روزنه د فردي لارښوونې او ودې څخه عبارت ده.

ـــــــ روزنـــه د هغـــو سیســـتیماتیکومنظموهڅواو کوښښـــونو او د شخصیت د ودې پروسه ده چې د ټولنې په غوښتنه او د هغـوی لـه اړتیاوو سره سم ورته لوری ورکوي.

ـــــ ښوونه روزنه هغه هنر دی چې افراد د ژونـد کولـو لپـاره چمتـو کوي.

ketabton.com - The Digital Library

دښــوونیزو نظریاتوپــه بیــان کــې د روزنیــزې مــوخې او د درســي موضوعاتو په ټاکلوکې د فلســفي موضــوعاتو څخــه ګټــه اخیســتل کیږي.

دبیلګې په توګه: ښوونکی فلسفي نظام ته په پاملرنې او هغه لــوری چې دانسان او نړۍ په پرتله یې لري دانســان لپــاره یــو ځــانګړی څرنګوالی په نظر کښې نیسي، یانې فلسفه او ښوونه روزنه یو واحد امر دی، چې فلسفه نظري بڼه او ښوونه روزنه یې عملي بڼه جوړوي. له همدې ځایه ده چې فیلسوف دانسان او نــړۍ اړونــد تولــه ایــزه مطالعه لري او د یوځانګړي لید لوري څخه ورته ګوري اوهڅه کــوي چې دښوونې روزنې په وسیله هغه مقام چې دانسان لپــاره یــی پــه نظر کې نیولی لاربښوونه وکړي.

دفلسفې او ښوونې روزنې د اړیکې پلټنې لپاره درې طریقې:

دلاځیړنې په موخه د فلسفې او ښوونې روزنې د یوځایوالي اړونــد لاندې طریقې په نظرکښې نیسو او ترمینځ یې اړیکه په لاس راوړو.

لومړۍ طریقه: پدې طریقه کې دهغې څانګې په حیــث چــې د میتــا فزیک، انسان پیژندنې، او ارزښتونو پورې اړوند مسائل دي تر بحث لاندې نیســو. زده کــړه او پالنــه چــې خپلواکه پوهه ده او له پیژندنې او ارزښتونو ســره ســروکار لــري لــه فلسفې سره اړیکه ټینګوي نو زده کوونکي باید د فلسفي موضوعاتو لکه د نړۍ څرنګوالی، دمعرفت بنسټ او ارزښتونو سره بلدتیا ولري. له همدې لارې زده کوونکی د زده کړې پر مهال د علومــو د بیلابیلــو څانګو لکه فزیک، ژوند پیژندنه او هغه نظرونه چې فیلسوفانو د نړۍ

ketabton.com - The Digital Library

او انسان په اړه وړاندې کړي وکړای شي زده کوونکي پــه روښــنايي کې پرېږدي. په درسي پروسه کې اخلاقي مسائل، د ارزښتونوبنسټ اود ارزښت لرونکو پریکړو د کولو څرنګوالی تر مطالعې لاندې نیسو.

دويمه طريقه: پدې طريقه کې د فلسفې سره د ښوونې روزنې اړيکه د فلسفې مباحثي مسائل د روزنيزو مسائلو په وړاندې ځای نيولی. او د يادو مسائلو ترمينځ اړيکه په چلند اوپايلــه کــې څرګنــديږي پــه پوهنيزو بحثونو کې ښوونکي او زده کوونکي پدې توانيږي ترڅو لــه منطقي ، استقرايي، کره، او نورو د حل لارو چارو څخه ګټــه واخلــي د مسئلې دحل طريقه د هغو ګټورو طريقوله ډلــې څخــه ده چــې د زده کوونکواو ښوونکو په فکري وده او د مفاهيمو په پوهولو کــې خــورا ارزښتنمنه او د زده کوونکو پام د مسائلو حل تــه اړوي. او لارښــوونه ورته کوي ياني د کتنې، ازمايښــت، مطــالعې او د ډول ډول فکرونــو پلټنه په نظري او عملي طريقو زده کوي خپل فکرونه ځواکمن کړي ترڅو پخپله د فکر خاوندان شي.

دريمه طريقه: پدې طريقه کې کولای شو فلسفه د تيورۍ او ښــوونه روزنه د عمل په توګه وپيژنو. څرنګه چې فلســفه مــونږ لــه نــړۍ او انسانانو سره بلدوي نو دا ډول پيژندنه زمــونږ پــه شخصــيت اغيــز اچونکې هم ده. د فلسفي نظرياتو لوســتل يــو ډول ځــانګړې پــام اړونکې څيره لري چې د وګړو پام ځان ته را اړوي. دا پام د ښــوونې روزنې اود فلسفې يوه برخه جوړوي همدې مطلب تــه پــه کتوســره جان ديوی ويلي: که مونږ وغواړو چې ښوونه روزنه د بنسټيزو عقلي اوعاطفي ليدلورو د جوړولو په ډول نسبت طبيعت او هــم شــکلو تــه

ketabton.com - The Digital Library

وګڼو نو پدې حالت کې شاید فلسفه د بشپړې نظریې په توګه او یا هم د نظري ښوونې او روزنې د اساس په توګه تعریف کړو.

## ښوونې روزنې او ارواپوهنې ترمنځ اړیکه

۱۸۷۹ کال د اروا پوهنې د علمي کېدو کال دی. د شلمې پیړۍ په پیل کې اروا پوهنه د ژوندیو موجوداتو د برخورد څېړنې د عنوان وپیژندل شوه او له ۱۹۳۰ تر ۱۹۴۰ کال پورې دود وه. اما اوسمهال د اروا پوهنې پیژندنه هم د برخورد او هم ذهني مالوماتو ته اشاره کوي، په پای کی کولای شو اروا پوهنه په دې ډول تعریف کړو. اروا پوهنه د مطالعې او ژوندیو موجوداتو د چلند او ذهني مالوماتو له علمي پلټنې څخه عبارت ده او د انسان چلند پورې اړوند څېړنه کوي. تر څنګ یې عمل هم بیانوي اروا پوهنه په انفرادي او ډله ایزه توګه دانسان چلند اوذهن تر څېړنې لاندې نیسي د فکر کړنې یې بیانوي او هڅه کوي تر څو وښایي چې د بشر د سلوک ډول تر کومې کچې عقلي، غریزوي او یا هم دودیزه بڼه لري.

په ۱۹۱۰لسیزه کې والتر لیپمن دا نطر ورکړ چې زمونږ د سیاسي فکر یوه لویه نیمګړتیا داده چې د اشارې پرته غواړو انسان ته د سیاست له علم څخه خبرې وکړو. دنظري څېړنې څخه وړاندې موضوع څېړونکی باید دانسان په اروا باندې پوهنه پوه وي. دا چې ټول پدې اند دي چې د ټولنیزې پدیدې علمي پلټنه باید د اروا پوهنې پر بنسټ ولاړې وي. د بشر د طبیعت پورې د اروا پوهنې

ketabton.com - The Digital Library

اړوند واقیعتونه باید د لومړنیو سیاسي مفکرینو پــه خیــر ونــه منــو، بلکې په مستقیمې کتنې او تجربوي ډول سره یې واقیعــت پیــداکړو چې په پای کې به زمونږ څیړنه ترسره او ګټوره کــړي، چــې دا ډول کړنې ټولنیزو پلټونکو په ټوله ایزه توګه منلي او تر ډیره پــورې د اروا پوهنې کلید د انسانانو د فعالیتونو د پرانستلواو سلوک لپاره پــه کــار وړل کیږي. اروا پوهنه د انسانانو انفرادي او ډله ایزې کړنې تحلیلوي او دانسان د ژوند له ټولو ښو لکه ښوونې روزنې سره سروکار لــري د ټولنو په پرمختګ او او دانسانانود مسائلو په پیچلتیا کې ارواپوهنــه ستررول لوبوي یانی اروا‌پوهنه د علومو په پرمختګ سره نــوره هــم پراختیا مومي او ددې تــوان مــومي ترڅــو د انســانانو ســتونزې او مسائل په غوره طریقو سره حل کړي.

## د راوا پوهنې طریقې:

هر عمل چې دانسان له لوري ترسره کیږي له بیلابیلو اړخونو څیړنه کیږي. مونږ په اروا پوهنه کې له داسې پیښو سره مخامخ کیږو، چې هره یوه یې د چلند سره سمه ټاکــل کیــږي، د یــادونې وړ ده چــې هرعمل مــو بایــد د ځــانګړې پــاملرنې وړ وګرځــي یــانې د پیښــو دسموالي او ناسموالي څیړنه مطرح نده.

### عصبي طریقه ـــ زیستي: ( NEUROBIOLOGICAL APPROACH )

دانسان مغز د میلیاردونو حجرو په درلودلو سره د بدن پیچلې برخــه جوړوي ټولې اروايي پیښې پداسې طریقه د مغز او عصبي سیســتم په فعالیت کې دي چې د ژوند د عصــبي پیښــو او ذهنــي معلومــاتو

ketabton.com - The Digital Library

بیخبناه ګڼل کیږي. او په اړه يې پلټنه کیږي د اروا پیژندنې پلټنه چې پدې برخه کې کار کوي د مهمو مسائلو په رامنځته کولو سره وايـي چې د مغز، چلند او تجربې ترمینځ د نږدې فعـالیتونو پـه تـرڅ کـې منځته راغلی ده.

سلوکي طریقه: ( BEHAVIORAL APPROACH

په سلوکي(برخورد) پیښو کې هغه سـلوک چـې د لیـدنې وړ وي ترمطالعې لاندې نیسو ددې پیښو بنسټ ایښوودونکی یو امریکایې اروایوه چې واتسون نومیـده ؤ. واتسـون متوجـه شو چې له داخلي لارې دانسان د اعمالو مطالعـه ګټـور لیـد لـوری نلري، که چیرې اروایوه وغواړي چې له دې لارې يې مطالعه کړي نو لازمه ده چې د لیدنې وړ وي

واتسون د نیمې پیړۍ په موده کې په ارواییي لیـدلوري کـې بـدلون راوسـت. خوځنـده اروایوهنـه دهغـو ځوابونـو پـه وړانـدې چـې د خوځښتونو په مقابل کې ارایه کیږي څیړنه کوي، او پام يي دیتـه ده چې کومې جایزې کولای شي چې د ځوابونو د ځواک عامل وګرځـي او له کومې لارې کیدای شي چې د تشویش او تنبیـه د څیـرې پـه بدلون سره د چلند د پیاوړتیا او چوپتیا سبب وګرځي.

طریقه پیژندنه: ( COGNITIVE APPROACH )

ددې لارې د پلویان پدې عقیده دي چـې د انسـان د اخـذې حس یو غیرفعال حس دی ځکه چې د انسان مغز پـه فعـال ډول د خبرتیاوو ترلاسه کولو وروسته په پلټنه لاس پورې کوي او په تجربو او زده کړو سره کولای شي په نورو معقولو او مسئلو پوه، حل او نوي

ketabton.com - The Digital Library

بدلونونه پکې رامنځته کړي دا لارې نفي کوي او پـه جوړښـتي بڼـه کړنې او او ذهني مالومات مطالعه کوي.

مونږ باید دا منو چې د(R ـ S ) اروا پوهنه د ساده سلوک لپاره بسـنه کوي اما اروا پوهنه تر ډېره په په زړه پورې بڼو سره د ذهني پام پـه نه موجودیت سره هم په علمي توګه سلوک مطالعه کوي.

د پدیدې پیژندنې طریقه: ( PHENOMENOLOGICAL APPROACH

دا کړنې تر ډېره د یو فرد په ځانګړو تجربو ټینګار کوي. د بیلګې پـه توګه امکان لري چې دوه کسان د یو واحد موقعیت په اړه په بشـپړ ډول له ځان څخه متفاوت نظرونه څرګند کړي. دا نظریه باور پـدې باور ده، چې خپله د هغوی څخه د پوښتلو او څیړنو لـه لارې د خپلـې طریقې د بیان لپاره د هغوی کړه وړه په بشپړ ډول وپیژني. دهغـوی اعمالو ته په کتو سره دغه نظریه هم د پیژندلو دیـوې طریقـې پـه توګه تایئدوی. ترڅو کړه وړه ددې په توپیرچې پیښـې وپیژنـو او د پیښو د درک په څرنګوالي هم ټینګار کوي.

پدیده پیژندونکي په ګونګو او مبهمو موضـوعاتو او مسـا ئلو عقیـده نلري، او پر دې معتقد دي چې انسان له ځان څخه پرتـه د بهرنـي ځواک د لوبو څیز نشي جوړیدای بلکه انسان یو خپلواک موجـود دی چې د ټاکنې حق لري او دیو کوچنې کوونکې انګیزې لرونکـی ده او خوښیږي او مینه لري ترڅو ځانته پرمختګ ورکړي. په همدې دلیـل یی په کړنو ځیني پوهانو(انسان ګرا ) د پدیده پیژندونکو په نوم یاد کړي. او دا څرګنده ده چې د انسان د شخصیت د ودې او جوړښـت

ketabton.com - The Digital Library

سبب ارثي او محيطي عوامل دي او پدې برخه کې ښـــوونه روزنـــه د لارښوونې او لوري ورکولو رول لوبوي. يانې ښوونه روزنه د محيطي او ارثـــي تـــاثيراتو عوامـــل د انســـان شخصـــيت د ودې پـــه منظـــور سازماندهي او لوری ورکوي.

د ارواپوهنې او ښوونې روزنې ترمنځ توپير

ارواپوهنه اوښوونه روزنه پخپلو مسلسلو موضـوعاتو کـې يـوه ګـډه موضوع لري چې له اروايې جوړښـت څخـه عبـارت ده، يـانې دواړه علوم د انسان په اروايي جوړښت اخته دي يوازې پدې تـوپير سـره چې هره پوهه د يادې موضوع مختلف اړخونه په جـلا جـلا ډول تـر مطالعې او پلټنې لاندې نيسي.

پدې اړه د ښوونې روزنې پلټنه په داسـې ډول ترسـره کيـږي چـې ښوونه روزنه بايد په کومو طريقو، په څـه ډول توکـو، پـه څـه ډول داخلي مالوماتو او مطالبو سره انسان تـه وليـږدول شـي تـر څـو د انسان د شخصيت اړوندې مشخصې ځانګړتياووې په لاس راشـي خو دا ارواپوهنه له دې ډول مسائلو سره سرو کار نلري. ارواپوهنه د انسان داروايي پرمختګ مقررات د ژوند په مختلفـو پړاونـو او هغـه ارواييي ځانګړتياوې چې د ښوونې روزنې د تاثيراتو په پايله کـې پـه انسان کې راځي تر مطالعې اوڅيړنې لاندې نيسي. پـدې اسـاس د انسان په ارواي بڼه کښې بدلون او دښوونې روزنې په څانګه کښې پلټونکی د روزنيزو فعاليتونو د پايلی په توګـه شـميرل کيـږي ددې قوانينـو پـه بـدلون پوهيـدل د ارواپـوهنې بنسـټيزه موضـوع ده. د ښوونې روزنې او ارواپوهنې ترمينځ بل توپير پـدې کـې ددی چـې

ketabton.com - The Digital Library

ارواپوهان، درسي، ښوونيز او روزنيز مسـائل او ميتودونـه د اروايـي پرمختګ عواملو په توګه منلي پداسې حـال کـې چـې لـه درسـي مسايلو، ميتودونو، تجهيزاتو لوازمو او نور چې د ښـوونې روزنـې پـه څانګه کې ترې ګټه اخيستل کيږي د روزنيزو علومو د يو عالم لپاره د يو اساسي دندې او وسيلې په توګه د منلو وړ دي.

ګروټ هوف پخپلوڅيړنو کې ليکي چې د ښوونې روزنې او اروپوهنې ترمنځ سربيره پردې چې نږدې اړيکې لري نو په پرمختګ کې هـم دواړه يو بل ته اړتيا لري.

ګروټ هوف پدې باور دی چې اروپوه بايد دانسان د بدن داخلـي جوړښت چې تر روزنې لاندې نيول کيږي پرې پوه وي.

همدا ډول د روزنيزو علومو پوهان بايد پوه شي چې روزنيز مسائل او موضوعات په کوم ډول دانسان د رواني حقايقو پورې پـه پرلپسـې ډول جوړ شي. په مشخص ډول ويلی شو چې ښوونکی پخپلو درسي او روزنيزو فعالتونو کې داړتيـاوو، احساسـاتو،عواطفو، تمـايلاتو او د انسانی شخصيت د نورو ځانګړتياوو پيژندنې سره سرو کار لري که چيرې ښوونکی د زده کوونکو په دغو ځانګړتيـاوو پـوه نـه وي نـو پوهنيز فعاليتونه به يې له داسې ستونزو سره مخ شي چې بيا تـرې دوی هيڅ ډول ګټه نشي پورته کولای.

پدې برخه کښې ښوونکی او ښوونه روزنه د اروپوهنې مرستې اوپه اړه يې مالوتو ته اړتيا لري. علمي څيړنو ښـودلې چـې اروپوهـان او اروپوهنه هم ښوونې روزنې ته اړتيا لري. يانې له پـوهې او عملکـرد پرته له ستونزو سره مخ کيږي کله چې اروپوه د انساني شخصـيت

ketabton.com - The Digital Library

په حقیقي ودې، موجودیت او د انسان په اروا ځـان پوهـوي، نـو د لاپوهیدو لپاره د ښوونیزو او روزنیزو عواملو پیژندلو ته اړتیا پیداکوي. ځکه د انسان اروایي وده او پراختیا په هـر ډول چـې وي لـه خپـل ځواک څخه نه ترسره کیږي. بلکې روزنــه او عوامـل یـې دي چـې دانسان اروایې ودې ته شکل ورکوي یانی له ښوونې پرته د انســان هر ډول پرمختګ امکان نلري.

نو کله چې اروایوهنه د انسان شکل او ځانګړتیا په ثبـوت ورسـوي. روزنه باید د خپل کار د بنسټ په توګه په نظر کښې ونیســي. پـدې برخه کې اروایوهنه د ښوونې روزنې مرستې ته اړتیـا لـري، او لـدې پرته د شخصیت ځانګړتیاوې د پوهیدو وړ ندي. په همـدې ترتیـب ښوونه روزنه او پلان شوې موخې هغه وخت په ډاډ سـره د منلـو وړ دي. چې د یو پلټونکي شخصیت د جوړښت په برخه کښې موجودې وي، او همدا مالومات او خبرتیاوې د اروایوهنې په مرسـته پـه لاس راځي د ښوونې روزنې او اروایوهنې د مطالعې موضـوع پداسـې ډول سره ورته والی لري چې تر ډیره د دواړو عمومي اهـداف او مســائل سره یو ډول دي لکه د زده کړې وده او پالنه، د فرد وده او پرمختګ اودغه راز د ټولنیزو اړیکو پلټنه د ښوونې روزنې دبنسټیزوموضـوعات څخه ده.

د مسائلواو موضوعاتو د علمي او غوره څیړنــې پـه موخـه د فـرد او ښوونې روزنې وده، انکشاف او ټولنیزې اړیکې د هغو علومـو د پـایلو څخه ترلاسه شوي چې د ودې انکشاف او ټولنیزو اړیکې تر څیړنې او پلټنې لاندې نیسي ګټه پورته کوي.

ketabton.com - The Digital Library

د وزن د زیاتوالي، قد او سر وده او پرمختګ دغوره والـي او مهـارت په کارونو کې ده

ارواپوهنه دهغو علومو له ډلې څخه ده چـې د قوانینـو اړونـد لکـه د پرمختګ پرنسیپونه، ځانګړتیاوو، اروایي مشخصاتو د مختلفو کالنیو پړاوونو د مالوماتو د زده کړې اساسـات، علمـي خبرتیـا د ښـوونې روزنې په واک کې ورکوي.

لازماً د اروا پوهنې د قوانینواو پرنسپونو د پیژندلو پرته طبعـآ ښـوونه روزنه په ستونزو کې ښکیل کیـږي، دیـو سـالم شـخص روغتیـا او سلامتیا د دواړو علومو یوه ګډه موخه ده.

دفکر سلامتیا: له نورو سره د برابرۍ او همغږۍ قابلیت څخه عبارت ده. بدلون د ټولنیز او فردي چاپیریال سمون او دشخصي تضـادونو او تمایلاتو حل په منطقي، عادلانه، او مناسـبه توګـه د دواړو علومـو دپاملرنې وړ ده.

## دانسان بنسټیزې اړتیاوې:

افراد د روغتیا د ترلاسه کولو په موخه کومو څیزونو ته اړتیـا لـري؟ دا پوښتنه مونږ ته د انسان د بنسټیزو اړتیاوو د پلټنې او موندنې لپاره لارښوونه کوي ترڅو پدې اړوند د اړتیاوو پنځـه ګـووني سـطحې او ددغو اړتیاوو ارزښت او ونډه دانسان په شخصیت ،صحت او دروغتیا په بحث کې مطرح کوو.

د اړتیاوو کچه (اندازه)

ketabton.com - The Digital Library

د ابرهام مازلو په انـد د بنسـټيزو اړتيـاوو پينځـه اصـلي شـميرې موجودې دي. چې کولای شو دهغو پـه لومړيتوبونـو سـره اړونـدې اړتياوې وويشو. دهغه له نظر سره سم په پيل کې بايد د ټيټې کچې اړتياووې تر هغې کچې حل شي ترڅو فرد وکـولای شـي د لـوړې کچې د اړتياوو پوره کولو په لوراقـدام وکـړي د مـازلو پـه واسـطه مشخصې اړتياوې د وړانديوالي په شمير عبارت دي له:

۱ــ فزيولوژيکي اړتياووې؛

۲ــ ساتنديه او روغتيايي اړتياووې

۳ــ عاطفي او احساساتي اړتياووې

۴ــ د نفس غوره اړتياووې؛

۵ ــ ځان موندونکی اړتياووې؛

## فزيولوژيکي اړتياووې

اکسيجن، خواړه، اوبه، له بـدن څخـه د خارجيـدونکو مـوادو دفـع، جنسي تمايلات او فزيکي فعاليتونه د فزيولوژيکي اړتيـاووې مهمـه برخه ګڼل کيږي.

ددې اړتياوو پوره کيدل اړين دي که چيرې ورته لاسرسې ونه شـي نو ژر تر ژر بايد د اړتياوو د بشپړلو لپاره هڅې وشي ترڅو يـې ژونـد وژغورل شي.

ketabton.com - The Digital Library

بیلګه: که چیرې په تنفس کښې ستونزه رامنځته شوې وي، نو هرمرو باید مناسبه هوا د تنفس د ودې په موخه تنفسي دستګاه ته داخل کړای شي که نه په څو شیبو کښې به فرد خپل ژوند دلاسه ورکړي.

ساتندویه او روغتیایی اړتیاوې

ددې اړتیاوو اساس د زیان رسوونکو محیطي عواملو او عناصروڅخه ځان ساتنه او لریوالی دی. پدې سربیره شخص باید دا احساس کړي چې د موجوده ټولنیزو خطرونو څخه په امن کې دی او په وړاندې یې ساتنه کیږي او د ناروغانو د فزیکی اړتیاوو د تامین او ترلاسه کولو لپاره د لاسونومینځل او د بوی د لیرې‌دونې د مخنیوي په موخه د استریل د طریقو څخه ګټه واخیستل شی.

عاطفي اواحساساتي اړتیاوې

ټول انسانان مینې او محبت ته اړتیا لري هغه نوي زیږیدلي ماشومان، چې د مینې او محبت څخه بې برخه دي. که د هغوی فزیولوژیکي او ساتندویه اړتیاوې پوره هم وي بیا به هم ژوند کول ورته خوند نه ورکوي.

لویان او ځوانان هم مینې محبت ته اړتیا لری او دا هیله لري ترڅو یو دبل په غم او خوښۍ کښې شریک شي چې ددې اړتیاوو د نه بشپړېدو په صورت کې ورته ناروغی، جدایي پیښیږي.

د نفس غوره اړتیاوې

ketabton.com - The Digital Library

هرڅوک غواړي چې په ټولنه کې د یو ارزښتمند انسان په توګه ژوند وکړي او وپیژندل شي هغه باید په نفس باور ولـري او دا احسـاس کړي چې په ټولنه کې پیژندل شویدی د کورنۍ او خلکو په وړانــدې محترم دی که چیرې دغه اړتیاووې پوره نشي نو انسانان به یو د بل په وړاندې د درناوی په لور هومره تمایلات ونه ښیي. او همدا ډول د ناهیلی، بی کفایتي او پریدوالی احساس به پکې پروت وي کورنۍ او پالونکي کولای شــي پــه نفــس پــورې تړلــې اړتیــاووې اومرســته غوښتونکي د اعتقــاداتو او ارزښــتنو د منلــو پــه وســیله د ترلاســه کیــدونکو اهــدافو د ترلاســه کولولپــاره هڅــې کــوي او د هغــوی اسانتیاوې او ملاتړد ټولنې یا په ټولنه کښې د مهمو اشخاصوله خوا پوره کیږي دغه عمل یو ارزښتمند حس ګڼل کیـږي چــې منــل شویو کسان ته یې زیاتوالی او غوروالی ښښي.

## ځان موندونکې اړتیاووې

د اړتیاوو د غوره والي او لوړوالي له پلوه د نفس اړتیاوې تر نورو مهمې او لوړ مقام لري. چې په ژوند کښې لوړې کچې ته د رسیدو لپاره امکانات پکــې شته.مازلو هغه کیفیتونه چې بالقوی څخه په بالفعــل واردیــږي پــه ترتیب سره په لاندې ډول ویشي.

۱ـ د ځان او نور منل

۲ـ په کورنیو او باندنیو ستونزو د تمرکز علاقه

۳ـ دنیوکې توان او ځواک

۴ ـ د نورو لپاره د خوښۍ او غم احساس

ketabton.com - The Digital Library

**۵ ـ ټولو خلکو ته درناوی کول**

**۶ ـ د ښیګڼو او بد ګڼو ترمنځ د توپیر توان**

**د تئوری مازلو د پکار وړنې لار:**

**د مازلو د بنسټیزو اړتیاوو د مراتبو په لړۍ کې ساتندویه طرحې، داطلاعاتو په راټول، برنامه ریزي، طرحې او ارزیابي کارول کیږي.**

## په انساني شخصیت کې د اړتیاوو ونډه او ارزښت :

**داسې ښکاري چې د مازلو په هرم کې فرد تل د خپلو اساسي اړتیاوو د بشپړتیا لپاره هڅه کوي همدا ډول که دانسان یو شمیر اړتیاووې پوره کیږي نو په بشپړیدو سره یې نورې هغه رامنځته کیږي او هغه فرد چې ټولې اړتیاووې یې له مینځه تللي تر اوسه د نورو شیانو په لټه کې دی.**

**بیلګه: امکان لري، چې تاسو د ځان د ښکلا غوښتنې ځواک زیات کړی او هنري توکو ته لاسرسی پیداکړی او یایې زده کړې ته ډیر وخت ورکړئ. پدې سره نوي څیزونه تعقیب کړئ او په هوښیارتیا سره یوې ځانګړې څانګې ته ورسیږئ د مازلو د نظریې د منلو څخه دا نتیجه اخلو چې د بشر د پیدایښت ګوهر ولاړ ندی او تل هڅه کوي چې د نړۍ په بدلونونو کې ځان د برابرۍ په حالت وګوري ننی انسان د پرمختګ په حالت کښې دی چې دغوره مواردو د لاسته راوړلو لپاره هڅه کوي.**

ketabton.com - The Digital Library

دا عقیده څرګندوي چې دانسان د بدن غړي له پیدایښت څخه تــر مړینې پورې د ودې او انکشاف په حالت کې دي.

## روغتیا اوسلامتیا څه ته وایی اوسالم څوک دی؟ :

کولای شو روغتیا د هغو مشخصو میعارونو په وسـیله چــې د عمــر، جنس، ټولنې او سیمې اساسي عواملوپورې تړلي دي وپیژنو.

د اکولوجستانو له نظره سالم انسان هغه څوک دی، چې د جســمي، فکري، اروایي او اجتماعي پلوه سالم، بی عیبــه، خــوښ، فعــال، لــه سیاسي بنو باخبر، له اقتصادي پلوه تولیدونکی او له فرهنګــي پلــوه مسئول وي. لنډه دا چې د اروایي روغتیا موخه لــه ټــولنیز چاپیریــال سره ځان جوړونه ده. یانې هغه چاته سالم ویلی شو چې هم خپل او هم د نورو له نظره ټولنیز چاپیریال سره برابر او وتوانیږي څو خپلــو دوستانو او ګاونډیانو سره د له کوم فشارپرته په هوســاینې ســره ژوند وکړي همدا ډول د اروایي روغتیا یوه نښه دا ده چې په څه ډول یو، په هماغه ډول ځان وپیژنو. او هغه څوک چې اروایي روغتیا نلري تل په ستونزو او جنجالونو کې اخته وي ځان کله بیوزله او کلــه هــم ځواکمن ګڼي د ځان د وروسته والی لپاره عذر وړاندې کــوي او پــړه یې د نورو په غاړه اچوي او برعکس څوک چې ارواییي روغتیــا لــري نود ارام او هوسا ژوند څخه برخمن او له ځان ښوودنې، بد اخلاقــي څخه لریوالی غوره کوي کــوي او تــل د پرمختــګ پــه لارې پســې ګرځي.

ketabton.com - The Digital Library

په یوه ټولنه کښې د انسانانو د روغتیا مهمه برخه په فـردي روغتیـا پورې تړلی ده او باید د افرادو د اړتیاوو سره متناسبه ټکنالوژۍ پکې وجود ولري اما د دریمې نړۍ هیوادونو په ټولنـو کښـې داسـې یـوه سلسله مسائل دخیل کړي چې له اړتیاوو سره یې هـیڅ تناسـب او ورتوالی نلري.

دې هدف ته پام سـره Public health او health science د سـلامتیا ساتنه او پرمختګ ده.

مونږ یوازې (Promotion ) نلرو،بلکې (protection) هم لرو.

ددې دواړو لپاره باید یوشمیر اقدامات وشي چې دا اقدامات بـه پـه حقیقت کې د صحت تعریف وي خو وړاندې تر دې باید سلامتیا هم تعریف کړو.

د سلامتیا ماناوې د مختلفو لیدلورو له نطره تر ځیړنې لاندې نیسو او وبه ګورو چې د تامینولو لپاره یې په څه ډول ننۍ پوهې تـه رسـیدلي یو چې د نننی طب په نوم یادیږي.

ددې مفاهیمو له پوهیدو وروسته دا پوښتنې را ولاړیږي چې سلامتیا څه ډول اندازه کیږي او د ترلاسه کولو لپاره یې باید کـوم اقـدامات وشي؟ او د اندازه کولو لپاره یې له کومو لارو کار واخلو؟ هغـه کـه د جسم او اروا سلامتیا وي.

په واقعیت کې سالم هغه څوک دی چې جسم او اروا یې سـالمه او په سالمه ټولنه کې ژوند وکړي. سلامتیا نه یو لوری او نـه یوکمیـت دی، بلکې یو کیفیت دی او د کیفیت اندازه کول همیشه نسـبي وي.

ketabton.com - The Digital Library

پدې سره يې مونږ څلور تعريفونه په لاندې ډول وړاندې کــوو او پــه پای کې به دا څرګنده کړو چې کوم تعريف نن د منلو وړ ده.

لومړی تعريف: چې نړيوال روغتيايي سازمان WHO منلی په لاندې ډول دي: سلامتيا بشپړه جسمي، اروايي او اجتماعي هوساينه ده. په حقيقت کښې هغه وخت سالم کيدای شــو چــې دپورتنيــو درې واړو طريقو ترمينځ برابروالی تامين. او لږ تر لږه بايد اجتماعي، جســمي او اروايي هوساينه ولرو دا هغــه تعريــف ۇ چــې نړيــوال روغتيــايی سازمان تــه د منلــو وړ ده او پــام مــو وي چــې جســمي، اروايــي او اجتماعي هوساينه په مختلفو ټولنو کې مختلف وي. پدې سره مــونږ بايد يوه طريقه وکاروو چې ترې پــه ګټــې اخيســتنې ســره روغتيــا ترلاسه کړو کولای شو دا تعريف د ټولنې دسمولارو ســره پرتلــه او په نظر کې ونيسو.

دويم تعريف: که د اناتومي او فزيولوژي ترمينځ نسبي تعادل او اغيز يې په سلوک باندې وي نو فرد سالم دی يانې له اناټوميــک نظــره نيمګړتيا نلري اوکه چيرې نيمګړتيا هم وي نو پدې تــوانيږو چــې د نيمګړتيا، ټولنې او خپل سلوک ترمينځ برابروالی ټينګ کړو، لکه هغه معلولين چې له جګړې وروسته بيــا د ځــواک خاونــدان شــوي وي. نوې ځواکمني: نوې ځواکمني چې يو معلول نوی ځواک يــا قــدرت ترلاسه کوي. لکه د هغو وګړو په څير چې سترګې يې دلاسه ورکړی وي. په هغو تمرينونو چې ګوري غوږونه يې ځواک مومي او وروســته داسې کارونه ورته وسپارل شي چې ترسره کولو توان يــې لــري او

ketabton.com - The Digital Library

دځان او ټولنې لپاره ګټور وګرځي. پدې صورت کې ویلای شــو چــې هغوی نوي ځواکمن شوي.

بیا ځواکمني: د پخواني قدرت بیرته راګرځیدل د یو نوي قدرت پــه توګه. لکه د پروتز ایښودل د هغه معلول لپــاره چــې خپــل لاســونه اوپښې یې د لاسه ورکړي وي.

ددې تعریف پربنسټ هر عامل چې د بدن اناټومیک او فزیولوژیــک تعادل لمنځه وړي نو دناروغۍ لامل به وي او که چیرې مــو د بــدن د اناټومیک او فزیولوژیک صحت ترمنځ تعــادل ټینــګ وي نــو مــونږ سالم یو.

دریم تعریف: نړیوال روغتیایي سازمان کولای شــي څــو د لــومړني تعریف په وړاندې دا تعریــف ارائــه کــړي چــې دلــومړي تعریــف د مفاهیمو سربیره څو نور مفاهیم هم ورسره موجود دي ســلامتیا تــل په منفي طریقو اندازه کیږي.

د بیلګې په ډول:

هیڅکله هم داسې نه وایو چې څو کسان واده لري، بلکې ویل کیږي څو کسانو په کال کې طلاق اخلي، یا څومره ماشومان په کــال کــې خپل ژوند د لاسه ورکوي، په همدې دلیل هغه طریقې چې د سلامتیا لپاره دي منفي دي. چې یوله دغو طریقو څخه IMR طریقه ده.

دیوکال څخه د کم عمره ماشومانو مړینه

X ۱۰۰۰ Infant Mortality Rate ـ I.M.R

د هماغه کال ټول زیږیدلي (ژوندي)

ketabton.com - The Digital Library

د سلامتیا د اندازه کولو لپاره درې طریقې:

۱ــ Infant mortality rate IMR

۲ــ Maternal mortality rate M M R

۳ــ Life Expetectany

د (( MMR )) طریقه دحاملګي یا زیږون پرمهـال د میندو د مړینې لامل ګرځي .

دزیږون او بـارداري لـه امله پـه کـال کـې د میندو مړینه

XK ـ ۱۰۰۰۰۰ ـ I .M .R ـ

په هماغه کال د ژوندیو زیږیدلو شمیره

او دا څرګندوي چې ۱۰۰۰۰۰ماشومانوپه زیږولو سره څومره میندې خپل ژوند له لاسه ورکوي.

په ایران کې ۴۵ میندې په اروپایی هیوادنو کې ۱ مور او پـه ځینو افریقایي هیوادونوکې د نږدې ۱۲۰ میندې خپل ژوند دلاسه ورکوي.

د ژوند هیلې یا (( Life Expectancy )) طریقه چې د نړیوالو طریقوڅخه ده دا ښیي کله چې یو ماشوم پیداکیږي د هرې تـولنې محیطي شرایطو ته په پام سره انتظار کوو چې څو کاله عمـر لـري. په ایران هیواد کې د ۶۲ څخه تر ۶۵کالو پورې وي، او تل د ښځینو د عمر اوسط له ۲ څخه تر ۳ کـالوپورې ډیـر وي خـو پـه ۱۴۵و ۱۵

ketabton.com - The Digital Library

کلني کښې د ښځینه و مړینه د نارینه و په پرتله دوه برابره ده. چې ددې مسائلو علت د زیږون او بارداری پورې تړلی دی او کولای شـو چې دغه دوره د ((Fertility age)) یا بارداری پـه نـوم یـاد کـړو. پـه جاپان کښې د ژوند هیلو طریقه پینځه اویا ۷۵ کاله وه چې اوس ۸۶ کالوته رسیږي.

تعریف: نړیوال روغتیایي سازمان وایي که چیرې د ناروغۍ هیڅ یوه نښه مو په ځان کې موجوده نه وي او پدې وتوانیږي هغه کارونه چې غواړئ په سمه توګه ترسره کړي نو که یې پخپـل وخـت ترسـره کړل دا د سلامتیا یوه نښه ګڼلی شو.

کیدای شي یو شخص د ډول ډول کارونو ترسره کولـو لپـاره کـافي انرژی ولري، خو دلته اړینه داده چې هغه کارونه بایـد پخپـل وخـت ترسره کړي د تعریف په دوام کـې د مهمـو مسائلوترشـا روحیـې درلودل ځکه مهم دي چې دانسـاني هورمـون تغیـرات سـالم دي، ډیری وخت ځواکمنه روحیه ولري او د ناروغۍ سره هـیڅ اړیکـه او نښه ونلري په همدې ډول باید کاري پوتنشیل ولري او په مناسـب وخت کې خپل کار ترسره کړي په لومړني تعریف کې چې د سلامتیا په هکله وړاندې شوه. د هرډول ناروغۍ نښتون یې سلامتیا ګڼلـه او دا تعریف یې د طبابتي ژوند BIO MEDICAL تعریف په نوم ونومـوو. یانې هر هغه څوک چې ناروغۍ (کلینکـي نښـې ) نلـري سـالم ده نړیوال روغتیایي سازمان پدې موضوع نیوکه وکړه اوداسې یې وویل کله چې دا تعریف وړانـدې کیـږي د اجتمـاعي، اروایـي او محیطـي عواملو ونډه پکې له یاده ایستل کیـږي. د اروایـي نـاروغۍ کلینکـي

ketabton.com - The Digital Library

نښانې ډيرې وروسته څرګنديږي، چې په همدې سره د نورو عواملو ونډه له منځه تللې او دا تعريف په درملنه کې ډېر مخکښ او په اوږدمهاله، اروايي او هغه ناروغۍ چې تولنيز عوامل پرې تاثير لري نه مخکښ او نه هم برياليۍ.

۱۹۹۲ کال کې دوبس د سلامتيا په هکله داسې تعريف وړاندې کړاو دا د يو نوي تعريف تر عنوان لاندې د منلو وړ دی.

سالم کس هغه څوک دی چې د خپل چاپيريال سره ځان برابر او سنبال کړي، او دا برابرښت بايد ټاکلی وي البته تر دې وړاندې دوبس په ۱۹۸۰ کال کې هم د روغتيا يو شمير تعريفونه وړاندې کړي وو..

دبيلګې په ډول: که چيرې بل ځای ته لاړ شئ او د حرارت درجې او د ژوند له متفاوت ډول سره پخپله توافق او تطابق وکړئ، او ونه توانيږئ چې مثبت کار وکړئ نو بيا هم سلامت نه يوو نو په کلي تعريف سره سلامت داسې دی. چاپيريال سره دومداره برابروالي او ورته والي ته وايي. په هغه صورت کې چې دا برابروالی او ورته والی د کار وړاو اکولوژيک او هم اروايي وي.

دوبس ددې تعريف په وړاندې کولوسره وايي چې زمونږ ورته والی بايد ددې سبب شي چې په ژوند کې د لوړو هيلو لرونکي شو، د ژوند کيفيت مو ورسره غوره او که په پای کښې عصري خدمات هم وجود ونلري بايد پدې وتوانيږو چې په هوساينې سره ژوند وکړودا وروستنی تعريف دی چې د سلامتيا په اړه وړاندې شويدی. که د سلامتيا تعريف جسمي، اروايي او اجتماعي هوساينه وي نو کوم

ketabton.com - The Digital Library

کارونه او اقدامات باید وکړو څو سلامتیا ته ورسیږو؟ پدې اړه یو لـړ اقدامات وشول چې ټولو ورسره موافقت نشـو کـولای او دا اصـل د فرد سلامتیا ته د رسیدو لپاره د لومړني اصل په توګه ډیر د پـاملرنې وړ ده او وروسته دې پایلې ته رسیږوچې د دوبس دا تعریف ترنـورو ډیر د منلو وړ ده.

۱ــــ سالم هغه څوک دی چې فردي پـاکوالی ( personal hygiene)) وساتي چې دا پاکوالی د بدن، جـامو، ویښـتانو او پوسـتکي څخـه عبارت دي. او ددې تعریف موخه داده چې د ځان شخصـي سـاتنه وکړو او پردې ټینګار وکړو چې څه ډول د ځان ساتنه وکړو .

۲ــــ حفـظ الصـحه د ۷ څخـه تـر ۸ سـاعتو پـورې د ارام خـوب لاربښوونه کوي او کوم وخت چې د انګلستان او امریکا په هیوادونو کښې د هوایي او ځمکنیو پیښو شمیره لوړه شوه او په عین حال کې دا حالت دې لامل ته پاملرنه وشوه چې د هر انسان په بدن کښې د بایومتریک په نوم یو سیستم موجود دی چـې د ژونـد پـه متفـاوتو وختونو کې ورسره مخامخ کیږي او په ځینو ورځـو کښـې ( Mental Stat and physiologic Stat) یوله بل سره پداسې عمـل کـې ورتـه والی پیداکوي چې انسان پکې د کار کولو لـوړ تـوان لـري. خـو پـه ځینوکې یې دا طریقې پداسې ډول دي چې فرد پکې د لږ کـار کولـو توان لري. او دافرادو په وینا چې دوی ګواکې د هیڅ کار کولـو تـوان نلري.

که چیرې څوک په یوه میاشت کې ۲۵ یا ۲۶ ورځې پدې حالت اخته شي نو هرو مرو یې په ستونزو کې د اخته کیدو امکانات شته دي.

ketabton.com - The Digital Library

نو په هماغه وخت کې يې کوچني کمپيوټرونه جوړاو دا يــې وليــدل چې ځينې انسانان که په شپه او ورځ کې ۶ ســاعته خــوب وکــړي پدې شرط چې په پوره ارامۍ سره خوب وکړي ، نو لوړ کــاري تــوان پيداکولای شي. او هغه څه چې پدې تعريف کې ويل شوي دا وه چې له ۷ څخه تر ۸ ساعتو پورې خوب د سلامتيا دليل نشي کيدای بلکه دهغه د خوب اندازې پيداکولو لپاره چــې مــونږ پــورتني تطــابق تــه رسوي« Physiologic او Mental تطابق» د سلامتيا له نظــره ارزښــت لري.

۳ دسهار چای ښل ( صبحانه ): دا مسئله په ماشومانو کې ازمايل شوې وروسته يې ديته پام شو چې دسهار ډوډۍ په خوړلوســره پــه ښوونځي کې دوه عوامل د ماشومانو د رياضی زده کړې لپــاره مهــم دي چې د قند او ويټامن C څخه عبــارت دي. او دا وايــې چــې هغــه وخت چې انسان ستړی يا ويريدلی وي نود ويټامنC کچه يې لوړه او ارزښت يی زياتيږي ځکه محلول په اوبو کې ده او په بدن کې نــه ذخيره کيږي، خو يوه اندازه يې د لنډې مودې لپاره په فوق کليه غده کښې ذخيره کيږي.

په پای کې دې نتيجې ته ورسيدل هغه ماشــومان چــې ســهارنۍ ( صبحانه ) نه خوري يوه ساعت وروسته يې د بدن ګليکوژن ختميږي او پدې سره بدن نشي کولای چې له وروســتني غوړينــو او ســتوني موادو څخه ګټه واخلي ځکــه چــې ګلوکــوز د غــذايي مــوادو غــوره سرچينه ده

ketabton.com - The Digital Library

ددغو ماشومانو سترړيا بيا د رياضـيكي مسـايلو د حلولـو پـر مهـال څرګنديږي، نو بنآ د سـهار خـواړه بايـد خامخـا قنـدي مـواد، يـا نشايسته د يو ډول ميوې سره وکارول شــي څـو چــې د ماشــومانو کارونه غير فعال نه شي.

۴ په خوراک کښې له هر ډول خواړو څخه ګټه نه اخيستل

البته دغه خواړه بايد (junkyfood) يا هغه خواړه چې اضافي مواد لري نه وي. ځکه دغه خواړه يوازې کالوري توليدوي او ډير اضـافي مـواد له ځان سره لري.

۵ د بدن د وزن له ۳ څخه تر څلور فيصدو پورې د غوښتنوپه واسطه ساتل کيږي. که دانسانانو B.M.I (BODY MASS INDEX) چــې شــلو څخه تر پينځه ويشت شميرو پورې وي نــو انســان د طبيعــي وزن لرونکی او که شمير يې له ۲۹ څخه ډير وي د زيات وزن لرونکی او که چيرې له ۱۸ څخه تر ۱۹ اويا هم ۱۷ وي نــو دا فــرد پــه خــوار زواکي(سوء تغذيه) اخته ده اوس بايد وکتل شــي چــې لــه پورتنيــو شميرو څخه د B M I دهدف کوم يو دی؟

د غوړوالي اندازه په بدني کتلې B M I کې ده.

BMA= خارج قسمت    په کيلو ګرام سره وزن

عبارت دی له وزن

۲( په متر سره قد ۲ (H)يا

( وزن) ده چې قد بايد هرومرو په متر سره اندازه شي.

ketabton.com - The Digital Library

**۲ ( قد)**

**دویم حالت: B.M.I وجـود لـري او Medically significant دي چـې د طب له نظره د ټولو ناروغیو پیل ګڼل کیږي او هغـه څـوک چـې پـه دریم حالت کښې قرار لري، تر ډیره په تنفسي او میکروبي نـاروغیو اخته کیږي. هغه افراد چې لـه ۳۰ څخـه تـر ۳۵ او الـی ۴۰ پـورې B.M.I) ولري نو د چـاغوالي یـا Gross obesity د نـاروغۍ پـه نـوم یادیږي، د سینې او د اندومتر سرطان، د هـډوکو نـاروغۍ، د وینـې فشار او قلبي سکتو کې راځي.**

**له همدې کبله ډاکټر ویلي سپارښتنه کوي؛ چې سالم انسـان هغـه څوک دی چې خپل وزن له خپل طبیعي حالت څخه د ۳ څخـه تـر ۵ فیصدو پورې کم وساتي. ۶ د بدني فعالیـت درلودل چې د خپل بدن د جوړښـت،عمر، او فزیولـوژیکي شـرایطو سره مناسب وي. مثلاً: مونږ باید پدې فکر ونه اوسو چې هـر څـوک کولای شي هرډول ورزش تر سره کړي.**

**۷ د الکولو استعمالول: هغه څوک چـې الکـول ډیـر اسـتمعالوي او غواړي د استعمال کچه یې ټیټه کړي دا څرګنده شوېده هغو مینـدو چې الکول یې هیڅ ندي استعمال کـړي د بـارداری پـر مهـال یـې استعمال کړي نو په جنین یې تر ډیره اغیز کـوي دهغـو مینـدو پـه پرتله چې تر دې مخکـې یـې الکـول اسـتعمال کـړي وي مګـر د بارداری پر مهال یې کچه کمـوي چـې دا د شـرایطو سـره د بـدن مطابقت په ښه ډول څرګندوي.**

ketabton.com - The Digital Library

۸ د سګرټ څښل: هغه څوک سالم ګڼل کیږي چې اجتماعي اړیکې ولري او وکولای شي (I P S) د ( Inter personal communication )او خپلمنځي اړیکې په سالمه توګه ټینګې او پرمخ یوسي. کــه چیــرې پدې وتوانیږي چې سالمې اجتماعي او ترلې اړیکې ولري نو دا فــرد په سلامتیا کښې ده او سالم دی.

بیلګه: یو خوشــحاله واده د اروا د ســلامتیا یــوه برخــه ده، او واده د سالم ساتلو لپاره اصلاً مهمــه نــه دی چــې دواړه د واده د ټینګښــت لپاره په یو فکر کې واوسي بلکه په احترام او درناوي سره خپل واده ورسته ژوند وکړي.

په واقیعت کښې یوځای او یو ډول فکر کول د ســتونزو او مســائلو د رامنځته کیدو لامل ګرځي په ټولنیز ژوند کښې سالم فرد هغه څوک دی چې لږ ځان او خپل مقابل شخص وپیژني درناوی ورته وکړي او خپلمنځي منطقي اړیکه سمې وساتي(ممکن پخوا نه وې )چې دیته یوه ټینګه اړیکه وایی.

## د روغتیا زده کړه Health Education:

د طبي او حفظ الصحې( روغتیا ساتنه) د علومو سمه زده کړه د ژونــد او اړیکو هنر سره یو ځای کوي او تړاو ورکوونکی عمــل د ســلامتیا، یووالي، همغږۍ او ددې سیستم کړنې زیاتوي.

د دروغتیا ساتنې (حفظ الصحې) د زده کړې تعریفونه

خلکو ته د سمو خبرتیاوو او اطلاعاتو ورکول او په هغوی کې د مثبت فکر او روحې رامنځته کول د عمومي سلامتیا او روغتیا یوه برخــه ده.

ketabton.com - The Digital Library

په همدې ډول عمل او چلند سره د دتولنې اوانسان د سلامتیا کچه لوړیږي او د په روغتیا ساتنې په چارو کې انسان ته پوره پآملرنه کوي.

۲ـ له روغتیاساتنې څخه د ژوند د اجتماعي، روزنیزو پوهو، د خلکود سلوک بدلون او د اروایي او جسماني سلامتیا د ښه والي او غوره والي په موخه ترې ګټه اخیستل.

۳ـ د خلکو دلیدلورو او پوهو تحلیل او ویشل او د علمي کشفیاتو پر بنسټ د انسان

او ټولنې د سلامتیا د پرمختګ د کچې د لوړوالي.

۴ـ د علومو اوسلامتیا د خدماتو هغه برخه چې یوازینی هدف یې دچلند لوړوالی او د هغه څخه ملاتړ دی د ناروغۍ درامینځته کیدو مخنیوی کوي او یا د ناروغۍ په درملنه کښې ګټور وي او د ناروغۍ په یوه برخه کښې مرستندویه وي.

۵ـ د هغو تجربو ټولګه چې د ټولنې د افرادو په لید لورو، پوهو او کړو وړو مثبته اغیز لري د کلتور بیوزلي، د سمې زده کړې نشتون، مادي بیوزلي او داسې نورې اړتیاووې دي چې دیوې ټولنې د افرادو لپاره زیانمن تمامیدای شي. نو د سلوک د سمې زده کړې لپاره له هر ډول موضوعاتو څخه خبرتیا مهمه ده. د روغتیا ساتنې ( حفظ الصحه )په سلوک ټینګار او موضوع یې د سلوک سمه زده کړه ده، د دې مورد په تحلیل کښې باید د ناروغۍ پر عواملو کتنه ولرو چې

ketabton.com - The Digital Library

سلامتیا تهدیدوي لکه، میکروارګانیزم و ویروسونه، باکتریـاووې ، د نړدیوالي عوامل شیمایی، محیطي (فرهنګي، اجتماعي یااکولوژیـک ) د جنګ او چاپیریال ککړتیا پورې اړوند عوامل او بلاخره د سـلوک عواملو او د ژوند طریقه(life style ) ډیر د پام وړ ګرځیدلې پرمختللـو هیوادونو لکه د امریکا متحده ایالات چــې د میکروارکـانیزم پـورې تړلي مسائل یې حل کـړي اودې پـایلې تـه رسـیدلي چــې ډیـری ناروغۍ بیولوژیکي عوامل نلري او سرچینه یې فرهنګي، اجتماعي او سلوکي عوامل دي.

دی بیلګې ته پام وکړئ:

د ایډز ناروغۍ په پام کښې ونیسئ او ددې ناروغۍ اړوند خطرنـاکو لاملونو په مینځ کې سلوک تر ټولو مهم شمیرل کیږي. او د مخنیوي یوازینۍ لار یې د ژوند د سلوک د طریقې بدلون دی.

د زړه د ناروغۍ د خطراتو له ډلــې څخــه د stress (ویــره) پــه څیــر عوامل، ارثي کورنۍ نـاروغۍ، دوینــې د شــکرناروغۍ ، د وینــې لــوړ فشار،کم تحرک، ډیر خوراک، له غوړینو خواړو څخه ګټـه اخیســتل ، سګرټ او الکولي مشروباتو څخه کولای شو یادونه وکړو.

اوس باید وګورو چې څومره یې ذهني ستړیا روښانه او څـومره نــه ده چې ډیری یې د ناسمو عادتونو له ډلې څخه شمیرل کیږي.

مثلآ: په سګرتو او الکولي مشروباتو د یو شمیر خلکـو روږدې کیـدل یوناسم عــادت دی. او لـږ خوځیدنــه ( کــم تحرکــي ) چــې د زړه د خطراتو د لاملونو له ډلې څخه ده یو ناسم روغتیایي چلند دی. ډیــر

ketabton.com - The Digital Library

خوراک او وریسې چاغوالی هم یو ناسم چلند او حالت ګڼل کیږي او ډیر لږ داسې پیښیږي چې یو څوک پرته د ډیر خوراک چاغ شي.

که چیرې شخصي خوراک زیات شي نو د چاغوالي سبب ګرځي. پدې اړوند نور لاملونه ډیره کمه اغیزه لري. او یا هم د ارواپوهنې له اړخه د دلیل تراشي په ډول شمیرل کیږي د چاغوالي نور لاملونه کولای شو د ارثي، جنتیکي لاملونو او stress ته اشاره وکړو.

د استرس(ویره) په وړاندې مبارزه د سمو عملونو په ترسره کولو امکان لري او پدې برخه کې کولای شو په مسقیم ډول د فرد سره مرسته وکړو.

پدې سره ناسم چلندونه کولای شي د انسان روغتیا په خطر کې واچوي. او برعکس کیدای شي چې مثبت چلند د فرد او ټولنې د سلامتیا په ساتنه کښې مرسته وکړي ځینې چلندونه ډیر اسان او ساده دي، چې انسان ورته تر ډیره پاملرنه نکوي اما کله یې چې پایلې ووینې بیا یې په ارزښت پوهیږي

د بیلګې په ډول:

د تنګو بوټونو پښو کول (اغوستل) چې له ۳۰ څخه تر ۳۵ سلنه د دیبابت په ناروغانو کښې د بدن د غړي د پرې کیدو لامل ګرځي. ځکه د پښې ټیپي کیدل او د ټپ پرمختګ ددې لامل ګرځي څو غړی د بدن څخه غوڅ شي، او یا هم په زړه، اسکلیټ، د لاسونو او اوږو په مفاصلو فشار واچوي.

ketabton.com - The Digital Library

پدې برخه کې ماشومان د ځوانانو په پرتله ډیر زیـانمنونکي دي. او یا د یو ماشوم Big په ښه وده کښې ده او یو پر دوولس په شـاوخوا کښې یې وزن وي.

WHO (د روغتیایی نړیوال سازمان) پخپله اساسنامه کښې د فـرد روغتیـا تـه د رسیدو لپاره یو رکن د روغتیایی مالوماتوخبرول او رسول دي معرفي کړي دي او نړیوالې روغتیا ساتنې (جفظ الصحه ) په وروستنۍ ستراتیژۍ کې دې برخې ته ډیره پاملرنه کړېده، له همدې امله د روغتیا زده کـړه د نړیوال روغتیايي سازمان لومړنۍ اواساسي ستراتیژي ده چې خلکو ته روغتیايي خدمات وړاندې کوي. چې د خلکـو اوټـولنې د روغتیـا لپاره د اړین ګڼل کیږي. پـدې سـتراتیژي سـره کـولای شـو خپـل خدمات د نړۍ په ډیرو برخو کښې خلکو ته ورسوو.

طبي او روغتیايي خپرونې هغه وخت په بریالی توګه ارائه کیږي چې خلک یی وپیژني او په اهدافو او ګټو یې پوه او قبول یـې کـړي کـه خلک دا پروګرام ونه مني نو روغتیايي ګټور پروګرام به هم بی ګټـې وي.

ډیرې عقیدې او فکرونه د خلکو لپاره زیانمن دي او په همدې سـره روغتیا ته زیان رسونکې هم دي.

مثلآ: په ځینو سیموکې خلک واکسین کول د خدای په کارونو کښـې ګوتې وهل ګڼي. او ځینې فرقې او مذهبي رهبران حتا د هالند په څیر هیواد کښې د واکسین کولو مخالفت کوي، په ټوله ایز ډول ښـوونه او روزنه دانسان چلند، کړنـې او متقابـل غبرګـون د افـرادو او ډلـو

ketabton.com - The Digital Library

ترمينځ تمايلات او غوښتنې هغــه موضــوعات دي چــې د ښــوونې روزنې د مطالعې او علاقې وړ ګرځي.

تر اوسه هيڅ څېړنه ده توانيدلې چې پرته د خپلو ځانګړو غوښــتنو، تمايلاتواو ليد لورو چې د اروايي تاثير لاندې وي د پيښې د پيښــيدو او له تجربې پرته يې په سم ډول ترتيب کړي. همدا اصل د ښوونې روزنې په تحقيق کې هم صدق کوي. ځکه ښوونيز او رونيــز اعمــال هم په کسبي اوهم په فطري ډول د بشرد فکر او ارادې زيږنــده ده، دهغوی تشخيص په ځانګړو پيښو کښې هغه څه دي چې د خبرتيــا لپاره لازم او ګتور اروايي مالومات پکې وي.

## د ښوونې روزنې او ټولنپوهنې ترمنځ اړيکه:

ټولنپوهنه نوې پوهه ده، خو د ټولواجتماعي علومو پــلار ګڼــل کيــږي ټولنپوهنه د يو ټولنيز علــم پــه توګــه اجتمــاعي متقــابلې اړيکــې او مناسبات تر مطالعې لاندې نيسي او ددې علــم بنســټ فرانســوي عالم اګوسټ کنت په کال ۱۹۳۹ کې کيښود، نوموړي هڅه او پلټنــه کوله څو په ټولنه کې د انسان موقــف وپيژنــي او لــه دې لارې يــې غوښتل چې د ټولنې د پرمختګ لار پيدا کړي. ددې هڅــو اوفکرونــو په پايله کښې کنت پدې عقيده شو چې د اجتماعي علومو د تحقيق په پايله کښې بايد نوې پوهه رامنځته شي.

ددې واقيعت پراساس اګسټ کوميټ لومړنی علمي شخصــيت دی چې د سوسيالوژي ( ټولنپوهنه ) په نــوم يــې کتــاب وليکــه، چــې د ټولنپوهنې د علم رامنځته کوونکی دی. ټولنپوهنه يې د يو داسې علم

ketabton.com - The Digital Library

پــه توګــه وګڼلــه چــې ټــول اجتمــاعي علــوم پکښــې شــامل وو. ټولنپوهنه د اجتماعي سازمان د اصـلي پرمختــګ علـم دی، چــې د سرچینو، پرمختګ او ټولنې فعالیتونوسره ســرو کــار لــری. پــه بــل عبارت ټولنپوهنه، پیژندنه، د ســرچینه جوړوونکــو او اجتمــاعي ډلــو ځانګړی کار، د هغــوی شــکلونه، قــوانین، اداب، بنســټونه، د ژونــد طریقې، فکر، عمل او د بشر په فرهنګ او پرمختګ کښې ګډون ده. اوهڅه کوي څو دپدیدو عامه اصول او اجتماعي اړیکې کشف کړي د بـــــدلون قـــــوانین د تـــــولنې پـــــه پدیـــــدو ولاړ دي. ټولنپوهنه پر نظام د حاکمو قوانینو د تــولنې او ډلــو د تحولاتــو پــه کشف او څیړنــه کښــې ده. ده. ښــوونه روزنــه د بلــې هــرې اجتماعي پدیدې په څیــر د ټولنپــوهنې دعلاقــې اوخوښــې وړ پــه ټولنپوهنې سربیره د اجتماعي او سلوکي علومو نورې برخې هــم لــه ښوونې روزنې سره سرو کار لري. د اجتمــاعي پدیــدو پــه پیښــیدو کښې غوره او سمه پوهه او د څو ځانګو ترمینځ د نږدیوالي څخه ګټه اخیستل دي ټولنپوهنه د هغو ځانګو له ډلې څخه ده چې د طبیعت د څرنګوالي پوهیدو، زده کړې او پالنې سره مرســته کــوي. لــه نــورو ځانګو سره یې د توپیر لامل د پوښتنواو طریقو په ډولونو او د هغوی په تحلیلونو کښې ده، تقریباً ټولو اجتماعي مفکرینو لکــه افلاطــون، ارسطو او سقراط له پخوا د خپلو نظریو په بطن کښــې زده کــړې او پالنې ته پاملرنه کړې چې همدې سره پخپلو اثارو کښې یــې پــدې اړه خواږه او نرم ټکي لیــدل کیــږي. دا چــې ښــوونه روزنــه یــوه اجتماعي پدیده نو ټول پروګرامونه یې په عین حال کښې اجتماعي برنامې هم دي. پدې ترتیب سره دې پروګرامونو له ښوونې روزنــې

ketabton.com - The Digital Library

سره اړیکه پیداکوي. او د دواړو علومو ترمنځ نږدې اړیکــه موجــوده ده. ډیری ټولنپوهانو د اجتماعي مناسباتو په هکله د ښوونې روزنــې په برخه کښې ډول ډول نظریې وړاندې کړي. چې د ښوونې روزنــې او ښوونکو لپاره ستر ارزښت لري.

ټولنپوهان د ښوونې روزنې لپاره د سوسیالیزیشن یــا ټــولنیز کیــدل کلمه استعمالوي او پدې عقیده دي چې زده کړه او پالنه یوه ټولنیزه اړتیا ده چې هر ډول ټولنیزو مناسباتو ته رښتینولي پیداکوي.

د دوې په اند د ښوونې روزنې هدف د انسان اجتمــاعي کــول او پــه هغــوی کــې د اجتمـــاعي شخصـــیت رامینځتـــه کـــول دي اوټولنیز(socialization )کیدل پوهان پدې ډول تعریفوي:

د ټولنیز کیدو څخه موخــه د انســان یــو شــمیر ځــانګړي او کیفــي بدلونونه دي چې دهغوی په پایله کې د خپلې ټولنې ســالم او ګټــور غړي شي. د ټولنپوهنې یو شمیر پوهان داجتماعي کیدو موضــوع د رول د زده کړې په توګه تعریــف کــړې او پــدې عقیــده دي چــې د اجتماعي کیدو دعملیې په بهیر کښې انسان د اجتمــاعي رول لپــاره چمتو کیږي څو خپل رول په هغه ټولنه کې چې ژوند کوي پــه ســمه توګه او د ټولنې د میعارونو په نظر کښې نیولــو ســره ولوبــوي. او د وخت فرهنګي پایښت هغه وخت دوام منونکی ي چې یو نسل د بل نسل لپاره په فرهنګي او اجتماعي ژوند کې د پراخ او فعــال ګــډون لپاره بشپړ چمتوالی ونیسي. د فرهنګ دا کسب د یوسلسله متقــابلو اجتماعي کړنوچې اصطلاحآ زده کړه او پالنه نومیږي ترسره کیــږي، پدې مانا سره ښوونه روزنه مشخصآ یوه اروایي او ټولنیزه پدیده ده

ketabton.com - The Digital Library

ځکه یې لوستنه د ټولنپوهانو د لپاره پام وړ ده او له ټولنپوهنې ســره اړیکه لري.

ددې علم نوې څانگې چې د زده کړې او پالنې ټولنپــوهنې پــه نــوم یادیږي په نوولسمه پیړۍ کښې رامینځته شوې د لومړي ځل لپــاره فرانسوي ټولنپوه امیل دورکیم د ښوونې روزنې او اړوند مسائل ددې علم د مطالعې موضوع اود ټولنپوهنې دعلم له له نظره مطرحه او تر بحث لاندې ونیول.

نوموړی پدې باور وو، چې ښوونه روزنه د ماهیت، سرچینو او کړنو له پلوه یو بشپړ ټولنیز امر دی. نو په پایله کښې د زده کــړې او پــالنې نظریه د هر علم څخه وړاندې په ټولنپــوهنې پــورې اړه لــري. بایــد یادونه یې وشي چې دټولنپوهنې ټوله موخه په ټولنیز ژوند کښې زده کړه ، پالنه، د پالنې او زده کړې د پدیدو مطالعــه، او عمــومي کړنــې دي.

په همې ډول د زده کړې او پالنې ټولنپوهنه دانسان فکر د ښوونځیو، ټولنو او زده کوونکو په پرتله په بشپړ دول چمتو کوی. نور علوم لکــه روزنیزه ارواپوهنه، فلسفه، ښوونه روزنه او د ښوونې روزنې تاریخ پــه یوازیتوب سره ددې کار د ترسره کولوتوان نلري کیدای شي روزنــه په یوه فرد کې ترسره شي خو د ټولنیز بنسټ او ریښې لرونکــې ده. د ښوونې روزنې عالمان د عقلانــي، جســماني او ذهنــي ځواکونــو د پرمختگ او پراختیا غوښتونکي دي خو دا پروسه په یواځیتوب کــې تحقیق نه مني . ددې ډلې په داخل کښې د فرد فعالیت او ورســره د ډلې غبرگون دپورتنیو ځواکنو په انکشاف او ترقي کې د ارزښــت وړ

ketabton.com - The Digital Library

ده. اصولاً په مختلفو ټولنوکې د زده کړې او پالنې ډول له ارزښــتونو، عقایدو، اجتماعي او فرهنګي اهدافو، په ټولنه کې او د حــاکمو ملــي ځانګړتیاوو سره نږدې اړیکه لري. زده کړه او پالنــه پــه یــو ټولنــه کښې هرومرو شونې ده، دموجوده شرایطو د ساتنې او د برخلیــک د تسلمیدو لپاره ممکنه ده چې په انساني روزنه کښې پخپل برخلیــک برلاسی او دهوسا ژوند په لټه کې وي، چې د مطلوبــه شــرایطو پــه رامینځته کولو کښې هم ګټور تامیږي.

البته د زده کړې، پالنې، ټولنپوهنې او د اړوندو بنسټونو ترمینځ اړیکه یوه منطقي یا ډیالکتیکي اړیکه ده. یانې په هماغه اندازه چې د خلکو زده کړه او پالنه د ټولنې بنسټونه او نظامونه دي پخپله هم د ټولنیزو، سیاسي او نوي اقتصادي شرایطو په رامینځتــه کولــو او د ټــولنې د پخوانیو بنسټونو په بدلون کښې ګټور رول لوبوي. دغه نوي نظرونــو پــه ۱۹۵۰ لســیزې کــې پرمختــګ وکــړ، او د ښــوونې روزنــې د متخصصانو لپاره یې دا امکانات پیداکړه چــې د یــو لــړ پلټنــو لپــاره ګامونه پورته شي چې ددې ګامونوپه رڼا کښې وکــولای شــي ددې اړیکې په څرنګوالي پوه او د ټولنې او ښوونې روزنې ترمینځ د اړیکــه په په ځیرتیا سره وپلټي، اړین موضوعات او مسائل چې پدې برخــه کې د څیړونکو د تصدیق وړ او د اجتماعي علومو پوهانو د پاملرنې وړ دي په لاندې ډول دي.

۱ ښوونه روزنه او قومي، فرهنګي، ژبني، او نژادي اقلیتونه.

۲ ښوونه روزنه او د علومو او فنونو پرمختګ.

۳ ښوونه روزنه داجتماعي بدلون دعنوان په توګه.

ketabton.com - The Digital Library

۴ ښوونه روزنه، ښځینه او د هغوی اجتماعي اغیز.

۵ په ښوونځیو کې اجتماعي زده کړې.

۶ په ښوونه روزنه کښې راتلونکې کتنه.

۷ ښوونځی د اجتماعې واحد د عنوان په توګه.

۸ په ښارونو او کلیو کښې زده کړه او پالنه.

۹ زده کړه اوپالنه او د فرهنګي میراث په لیږدونې او ساتنه کې یې رول.

۱۰ ښوونکي او د هغوی ټولنیز ځایونه.

۱۱ دولتي ، خصوصي زده کړه او پالنه او د هغوی پیروي.

۱۲ ونډالیسم او زده کړه او پالنه.

۱۳ د فراغت مهال اوزده کړه او پالنه.

۱۴ د ساکن او پلټونکي زده کړه او پالنه.

۱۵ ډله ایزې رسنۍ او زده کړه او پالنه.

۱۶ تحصیلي بریا او ټولنیز هلاکت.

۱۷ ښوونه روزنه او یوځایوالی.

۱۸ زده کړه، پالنه او د ژوند چاپیریا.

۱۹ عصري کیدنه او زده کړه او پالنه.

۲۰ د ځوانانو او نوي ځوانانو زده کړه و پالنه او مسائل.

ketabton.com - The Digital Library

۲۱ د خلکو زده کړه او پالنه د ډیموکراسۍ په اصولو ولاړ دي.

۲۲ زده کړه، پالنه او اجتماعي طبقې.

۲۳ جنګ، زده کړه او پالنه.

۲۴ د زده کړې او پالنې د لګښتونو د چارو او تامین په اداره کښې د خلکو رول.

۲۵ په ټولنیزه نابرابرۍ کښې ګټور عوامل لکه ښوونه روزنه ټول هغه څه دي چې په ټولنه کښې د انسان په عصري کولو او پرمختګ کښې ستر رول لري.

څرنګه چې الکس انګلیس دې موضوع ته اشاره کړې نوموړی وایي: زده کړه د عصري ارزښتونو مهمه برخه شمیرل کیږي.

نوموړي د عصري انسان لپاره لاندې مشخصات ټاکلي دي ـ

۱ د نویو تجربو د ترلاسه کولو لپاره چمتووالی: عصري انسانان د نویو فعالیتونو د ترسره کولو او د نوو لارو د پرمختګ غوښتونکي دي.

۲ د څواکمنوخیرو پرمخ زیاتیدونکې خپلواکۍ: عصري انسانان هغه څوک دي چې د کورنۍ، حکومت، د قومونو د مشرانو او امپراطوري تر تسلط لاندې نه وي.

۳ په علم عقیده: عصري انسان پدې عقیده لري چې په طبیعت باندې د تسلط توان لري.

ketabton.com - The Digital Library

۴ تحرک پذیري: په عصري انسانانو کې د لوړوالي مقام ته د رسیدو لپاره غوښتنې موجودې دي.

۵ اوږدمهالهپلان: عصري انسانان د ځینو کارونو د ترسره کولو لپاره لومړی پلان نیسي چې په راتلونکو پینځو کلونو کې څه وکړي.

۶ په مدني سیاستونو کښې فعالیت: عصري انسانان دیته تمایل لري څو په سیمه ایزو چارو کښې ګډون وکړي.

## د ښوونې روزنې او اقتصاد ترمینځ اړیکه

اقتصاد پوهانو له ډیر پخوا څخه د ښوونې روزنې د ارزښت په هکله د انساني ځواک په روزنه کښې د اقتصادي او صنعتي پرمختګ په اړه نظریات وړاندې کړي. او د ملت دسرمایې د زیاتوالي په موخه ښوونه روزنه دیوې ګټورې پانګې په توګه ګڼي. یو له هغو پوښتنو څخه چې حقیقت پوهان د ځواب موندلو لپاره له دویمې نړیوالې جګړې وروسته پرې ځانونه بوخت کړل دا وه چې ښوونه روزنه د اقتصادي ودې ( د تولنې او په تولنه کښې د تولید اندازه ) سره څه اړیکه لري؟

یوه شمیر اقتصاد پوهانو او د ښوونې روزنې متخصصانو په یو لړ تحقیقاتو لاس پورې کړ. پدې سره یې هغه پیچلې اړیکه چې د ښوونې روزنې او تولنې اقتصادي نظام ترمینځ وجود لري روښانه کړي.

دیادونې وړ ده چې یادې ډلې د ښوونیزو نظامونو د لوستلو په اثر د زده کړې او پالنې تر اقتصاد لاندې یوه دریځه پرانستله.

ketabton.com - The Digital Library

او له دې وروسته ښووني روزنې د خپل مقام او ځای له پلوه چې په اقتصادي وده کې يې لرله په همدې موخه ورته ځانګړې پاملرنه وشوه او له هغه څخه يې د اقتصادي ودې د کسبي او حرفوي استعداد پراختيا، او پرمختللي کارځواک تامينوونکي او بالاخره د هغې وسيلې په توګه چې د ټولنې د ژوند د کيفيت په پرمختيا کښې ګټوره وه ددې وسيلې د عنوان په توکه ونوموله.

دبحث په دوام سره د دوو علمونو د اړيکو اړوند مناسبه ده چې د مفاهيمو ځينې برخې تعريف کړو.

اقتصاد په واقيعت کښې د يوې مسئلې د مطالعې، پلټنې او د هوډ اخذ او ټاکنه ده.

زده کړه د مهارت د ذخيره کولو، زياتوالي، پوهه او پيژندنه ده، چې افراد اوټولنه کولای شي ورڅخه برخمن شي.

پدې سره اقتصاد د افرادو د غوښتنې د اندازې د ټاکلو په طريقه چې د هغوی د زده کړې لپاره ښوونکي اوموسسات يوه وسيله ده سروکار لري.

ادم سميټ په کال ۱۷۷۶ کال کښې د ملل د پانګې په نوم کتاب خپور کړ چې په خپرولو سره يې د کلاسيک ښوونځي يا د اقتصاد علم بنسټ کيښود.

د اقتصاد علم هم د ښووني روزنې په څير بې شميره تعريفونه لري . ددې علم سره د بلدتيا په موخه د لوستونکو لپاره څو تعريفونه وړاندې کوو .

ketabton.com - The Digital Library

ادم سمیټ د اقتصاد د مال او دولت ګټلو علم ګڼي او پدې عقیده ده چې، اقتصاد هغه علم دی چې د پانګې د تولید او مصرف د څرنګوالي په هکله پلټنه کیږي.

ادم سمیت کلاسیک اقتصاد پوه لومړنی عالم دی چې د زده کړې او پالنې اقتصاد ته یې ځانګړې پاملرنه کړې ده، نوموړی پدې عقیده دی چې د افرادو روزنه سربیره پردې چې د پانګونې یو ډول ده نو ترڅنګ یې د افرادو څواکمن کیدل او دهغوی د استعداد د پرمختګ سبب هم ګرځي. چې نه یوازې ځان ته ګټه رسوي بلکه ټولنه هم د هغوی له پانګونې څخه ګټه پورته کوي.

الفرد مارشال وایی: تر ټولو ارزښتمنه پانګه هغه ده چې په زده کړه ولګول شي.

جان هیکس / Johan Hicks: د اقتصاد د منطق علم په نوم یادوي، د هغه په اند اقتصاد د انسان په ژوند کښې د اقتصادي انتخاب، څرنګوالي، پلټنې او مطالعې علم دی.

لیونل رابیینز / Lionel Robbins: اقتصادي تولیدي منابع د اقتصادي تخصیص په نوم پیژني نوموړی عقیده لري داقتصاد علم د تولیدي سرچینو اود کمیابو توکو د تولید عواملو ترمینځ د رابطې په مطالعه د استعمال مختلف ځایونه لري. او هغه مادي اهداف چې نامحدوده دي پاملرنه کوي. د پورتني تعریف په اساس نن د اقتصاد علم د انتخاب شوي او غوره علم په نوم هم یادیږي.

ketabton.com - The Digital Library

پلساموئلسن د اقتصاد علـم دا ډول تعریفـوي. د اقتصـاد علـم د هغولارو څیړنه ده چې د کالیو او خدماتو د تولید پـه موخـه بشـر د تولید کمیابو سرچینو لپاره د پیسو د نـه کـارولو لپـاره د وخـت پـه تیریدو سره ټاکل کیږي. دغه راز د هغولارو پلټل دي چې اوس او پـه راتلونکي کې په ټولنه کې د لګښت په موخه د افرادو د ډلو تـرمنځ د کالیو او خدماتو ویشنه ټاکي. اقتصاد هغه علم دی چـې د کمیـابو تولیدي سرچینود تخصیص په هکله په اوس او راتلـونکي کښـې د ډول ډول کالیو د تولید، توضیح او مصرف په اړه خبرې اتـرې کـوي. (مادلاومیلر ). اقتصاد په ساده ژبه هغو خدماتو، تولیداو توضـیح پـه پاَم کې نیسی چې ټولنه ورته اړتیا لري.

اقتصاد یو اجتماعي علم دی، چې دانسـان فعالیتونـه د شـتمنۍ یـا مادي هوساینې له پلوه تر مطالعې لاندې نیسي، اقتصـاد د پراخـې کلمې په مانا سره د تاریخي مشخصو، اجتماعي مناسباتو تولید دی. چې د ټولنې اقتصاد جوړونه او د هغو بیخبنا څرګندوي.

ښوونه روزنه هغه پروسه ده چې د افرادو د زده کړې، پـالنې، وړتیـا، فکر او شخصیت په وسیله ترسره کیږي.

په همدې توګه د زده کړې خدمات هم د زده کړې په تولید او توزیع باندې دلالت کوي.

په ډیرو مواردو کې دغه خدمات په مختلفو پړاونو کې پـه ښـوونیزو موسساتو کې تدریسیږي. د پوهانو په عقیده د ټولنې معنوي نظـام یانې ښـوونه روزنـه، ایـډیالوژۍ، سیاسـت او نـور د ټـولنې مـادي اوتخنیکي نظام په وړاندې نسبي خپلواکي لري.

ketabton.com - The Digital Library

که څه هم د ټولنې مادي او تخنیکي نظام د بشري نظام په تاریخ کښې ټاکوونکی رول لوبوي خو په معنوي نظام کې ټولنه له خپل پلوه د افرادو په تاریخي وده ه ژوره اغیز اچوي.

پورتنی مطلب دا څرګندوي، چې اقتصاد د ټولنې د اساس په توګه په ښوونه روزنه اغیزناک او د ښوونې روزنې بیخبینا اقتصاد ګڼل شوی. نو ښوونه روزنه د هیواد په اقتصادي چارو کښې هم ګټوره ده.

په ښوونه روزنه باندې د اقتصاد اغیز له دوه پلوه د پوهیدو وړ ده.

لومړی: د هر هیواد تعلیمي سیستم د تولیدي ځواکونو د انکشاف د سطحې او دهغوی د تولیدي مناسباتو او ملي تولید په ملي سطحه د تولیدي عواملوتابع ده.

په ملي سطحه تولیدي عوامل R طبیعي سرچینې، ( H) انساني سرچینې، ( K ) پانګه او د ( T ) فن راوړونکې سطحې څخه عبارت دي.

کولای شو چې د ملي تولید تابع پدې ډول، (R ، H ، K ، T )) F ــ Y وښایو.

دY تولید لګښت (ملي عاید) او F تابع ده.

دویم: دهر هیواد تعلیمي سیستم او ښوونه روزنه د پرمختګ په موخه پانګې ته اړتیا لري او په همدې ډول د زده کوونکو او ښوونکو روزنه، د ښوونځیو او لوړو زده کړو موسسې او د درسي موادو او وسایلو جوړول د پانګې پرته امکان نلري. له بل پلوه ښوونه روزنه د هیواد ملي اقتصاد په پرمختک کښې ستر رول لوبوي.

ketabton.com - The Digital Library

د زده کـړې پـه غوښـتنه کـې انسـاني سـرمايه د يـوې عمـده او ټاکوونکي عامل په توګه ګڼل کيږي. ياني د زده کړې وړانديوالی بايد پداسې ډول وي چې د غوښتنې بدلون ته ځواب وويـلای شـي او د زده کړې په خدماتو کښې برابروالی ( اعتدال ) ټينګ شي. ترکومـه ځايه چې زده کړه په دولت پورې اړه لـري نـو همـدا د دولتـي ادارو کارکوونکي مسئول دي چې د زده کړې کچه وټاکي. ښوونه روزنـه د عنوان په توګه له دوه پلوه د هيواد ملي اقتصاد په پرمختـګ کښـې ستر رول لري.

الف: ښوونه روزنه بشري ځواکونه په مختلفو سويو سره د ټـولنې د اړتياوو سره سم روزي ځکه د فني او مسلکي کادرونو پرته پانګونـه او د هيواد ملي اقتصاد پرمختګ ناشونې ده.

ب: ښوونه رزونه ناپوهي له منځه وړي او د ښوونيزو عمومي سـويو له لارې ټولنې ته پرمختګ ورکوي په همـدې ډول ښـوونه روزنـه د ټولنې افرادو ته ذهنيت ورکوي ،او وګـړي د هيـواد ملـي اقتصـاد د پرمختګ لپاره عياروي. يوخوا د زده کړې لګښتونه او لـه بلـې خـوا پانګونه شميرل کيږي.

په واقيعت کښې د زده کړې په پروسـه يـا د مهـارتونو ليـږدول او تخصصات په انسانانو کښې تغيرات او بدلونونه رامنځته کوي.

هغه وړتياوې او ځواک چې فرد يې د زده کړې په نظام کې ترلاسـه کوي او په عمل کښې د فرد او د ټولنې د ځواکمنتيا د ښـه والـي او د استعداد د پراختيا لامل ګرځي او له هغې پلوه د زده کړې شتمني يې د يو ډول پانګونې په توګه شميرل کيږي چې د فرد او ټولنې د توليد

ketabton.com - The Digital Library

قدرت ته زیاتوالی وربښي او د فردي او ملـي عایـداتو د سـطحې د پیاوړتیا لامل ګرځي.

که څه هم د زده کړې او پالنې اقتصاد په ۱۹۶۵ لسیزه کې د اقتصاد علم د اساسي برخې په توګه رامنځته شویدی.

د زده کړې په اقتصاد کې لومړنی نظریه پـه اتلسـمې او نوولسـمې پیړیو کې ورکړل شویده او څرګندده ده چې متخصص او ماهر افراد د زیاتو تولیدي قدرتونو څخه برخمن دي او د تولید په پروسه کښې د لازیاتو ارزښتونو لرونکي دي په هره کچه چـې پـه ټولنـه کښـې د متخصصینو اولوستو کسانو شمیره زیاته شي هغه هیواد کولای شي ډیر تولیدي او زیاتیدونکي عواید لاسته راوړي.

د یوځای کیدو د تناسب زیاتوالی، ښـاري ناسـته، د کـار ویشـنه، د نړیوالو اړیکو پرمختګ او له ډیرو اطلاعاتو سره د خلکـو اړتیـاووې زیاتې او غوښـتنې یـې ډول ډول کیـدلای شـي  هغـه اقـدامات او کوښښونه  چـې د ځـواب ویلـو او د مـادي او اقتصـادي اړتیـاوو د تامینولو لپاره د ټولنې لخوا ترسـره کیـږي د اقتصـادي پرمختـګ، ښکلا او ګټې اخیستنې لپاره لار هواروي.

چټک ټکنالوژیکي پرمختګ چې د ځانګړې چټکتیا او ځیرتیـا څخـه برخمن دی. دیته ښکلا ورکوي. خو ددې ټولو ترڅنګ زده کړه قـرار لري او دا کوښښ  کوي څو ټولنه د محدودو یا لږو سرچینو څخه په هوساینې په زړه پورې ډول ګټه پورته کړي.

ketabton.com - The Digital Library

**د یــوې تــولنې اقتصــادي ســرچینې پــه لانــدې ډول دي.**

**۱ــــ طبیعي او خدایي سرچینې هغــه ســرچینې دي چــې د ځمکــې لاندې دې لکه: تېل، کانونه، ازښتناکه او قیمتــي فلــزات او معــادني کانې او داسې نورې ...**

**هغه سرچینې چې د ځمکې پر ســردې لکــه: ځنګلونــه، ســیندونه، رودونه، اقیانوس،اوبه ، هوا او داسې نورې ...**

**۲ــــ مادي شتمنۍ: لکه نغدې پیسې، سره زر، سپین زر او داسې نور قیمتي فلزات، لاسي صنایع، عتیقه جات ډول مصنو عــات او دا سې نور ...**

**۳ ــــ انساني ځواک: مهارتونه، تخصص او د افرادو د هوښیارتیا تله، د ستونزو څارنه، لارښوونې، اونوښتونو د ګټورو لارو د حل په وړاندې کولو کې چې ددې عامل اقتصادي ارزښت د دوو یــادو لاملونوڅخــه اړین دي. ځکه له ســرچینو څخــه هــر ډول ګټــه اخیســتنه د پوهــو انسانانو د انساني ځواک روزنې پورې تړلې ده. نوځکه په متخصص انساني ځواک پانګونه اوله هغوی څخــه پــه اوږد مهــال کــې ګټــه اخیستل کیږي، خو په لنډه موده کې له هغوی رسمي او چټکه ګټه نه اخیستل کیږي ولې په اوږده موده کــې اقتصــاد تــه د ډیــرې ګټــې ورکولو ضامن دی. د زده کړې او پالنې له مطالعاتو څخه ددې برخې اړین مسائل اومباحث په لاندې ډول بیانوو.**

**۱ــــ د زده کړې او پالنې د پرمختګ په موضوع کې مالي امکانات او محدودیتونه.**

ketabton.com - The Digital Library

۲ــــ د زده کړې د پروګــرام پــه لاره اچونــه او د لــوړو اقتصــادي او ټولنیزو پرمختګونو پروګرامونه.

۳ ــــ د زده کړې وروسته والی او ورڅخه پیداشوي اقتصادي زیانونه.

۴ ــــ د ښوونې روزنې د شتمنۍ په زیاتوالي ې د ګټورو عواملو پلټنه.

۵ ــــ په صنعتي او اقتصادي پرمختګ کې د فني اومسلکي زده کــړو رول او ونډه.

۶ ــــ دنده اوښوونه روزنه؛

۷ ــــ نالوستي او ترې پیداشوي اقتصادي ستونزې.

۸ ــــ بیکاري، زده کړه او پالنه.

۹ ــــ د جنسیت اولوست د سطحې پر بنسټ دکار ځواک اوجوړونه.

۱۰ ــــ د ښځو ښوونه روزنه، په اقتصــادي پراخــوالي او پــه ټــولنیز پرمختګ کې یې ونډه، ښوونه نه یوازې چې د اقتصاد ســره نــږدې اړیکه لري بلکه یود بل په پراخــوالي او پرمختــګ کښــې اساســي ونډې لري.

## دسیاست او ښوونې روزنې ترمینځ اړیکه:

زده کړه او پالنه په ګڼ شمیر هیوادونو کې له هغه وخته چې دولت د جدي دولتي مسئولیت لرونکی شو لکه د ښوونې روزنې مسئولیت او ښوونې روزنې د لګښتونو لویه برخــه، د هغــوی لخــوا تــامین شــوه ښوونې روزنې، سیاسي، اجتماعي او اقتصادي اثارو ته پــه ځــانګړې توګه پاملرنه کړی وه. او له هغې څخه یې د ملي یووالي اقتصادي او

ketabton.com - The Digital Library

فني قدرت د ترلاسه کولو لپاره په بشـپړه توګـه ګټـه پورتـه کـړه دولتونه باید ددې اهدافو دتحقیق او پدې علم او فن کښې د انقلابي بدلونونو لپاره د ښوونځیو، بـې شـمیره تعلیمـي مرکزونـه، درسـي پلانونــو او اجتمــاعي ســازمانونوپه جوړولــو لاس پــورې کــړ. د اهدافو تاکنه اود زده کړې فلسـفه چـې ددې دولتونـود سیاسـي، اقتصادي او اجتماعي جهان بیني پورې تړلي دي دولتونو یې هم پـه وړاندې یو ډول ګامونه پورته کړل.

پدې طریقه ښوونې روزنې په تدریجي ډول سیاسي رنګ خپل کړ او سیاسي او عقیدتي تعلیمات د زده کړې او پالنې په پلانونو کې د یـو اساسي رکن په توګه وشمیر شول او پرمختګ یی د هغو سیاستونو په چوکاټ کې ترسره کیده چې د دولت له لوري به مطرح کیدل .په توله نړۍ کښې دغه اعمال د هیواد په روزنیزه دستګاه کې د دولـت له لوري حکومتونه د ډولونو په تناسب، سوسیالیسـتي، دکتـاتوري، ناسیونالیستي، محافظه کار، کاپیټالیستي، لیبرالستي او دیموکراتیک حکومتونه وجود لري.

څرګنده ده چې د روزنیزې دستګاه سره د دولتونو د مالي مرسـتو او سیاستوالو د اعمالو د نفوذ شمیره څرګنده شوه.

مثلاً: په سوسیالیستي هیوادونو لکه د چین خلق جمهورت ، کیوبـا او شمالي کوریا کې دښوونې روزنې ټول لګښـتونه دولـت ورکـوي. او دولتي ارګانونه پدې باور دي چې فرد یا شخص باید خپلې زده کړې په سمه توګه پرمخ بوځي. له همدې کبله د هر هیـواد سیاسـتوال د مهارتونو ډولونه او هغه شمیر افراد چـې پـه مختلفوڅـانګو کښـې

ketabton.com - The Digital Library

جذبيږي وکولای شي څو په اقتصادي، فني او عملي برنامو کې خپل مسئوليت په سمه تو ګه پرځای کړي همدې هيوادونو ښوونځي هم موظف کړي وو، چې د دولتي برنامو په ترسره کولوسره د ښــوونځي او ښوونې روزنې لګښتونه ورکړي.

هره دولتي دستګاه ددې لپاره چــې ډاډه شــي د ښــوونيز او روزنيــز بنسټونو په څېړنيزه برخه کښې د دولتي موضوع لپــاره بايــد کــوم اقدامات وکړي؟

مرکزي او نړدې ځارنه، د برنامو ترســره کــول، د ډول ډول زده کــړه ايزو طريقو او د درسي کتابونو خپرول او په پای کې د ښوونې روزنې د ټولو لګښتونو تامينول. .

د نوې جهان بينۍ پيداکيدل، په دولتونو کې د ناسيوناليزم اقتصادي اوسياسي انکشاف د ملتونو ترمينځ سيالۍ او د اړيکو پــه پريکولــو د استعمار منځته راتګ، دصنعتي ټولنې پرمختګ او په لــوړه کچــه د ټکنالوژيکي زده کړې رامنځته کول.

دښوونې روزنې او سياست د بنسټ ترمينځ يو ډول اړيکې موجودې دي او دا اړيکې د دې سبب شوي چې د پوهې يــوه ډلــه پلټونکــو د ښوونې روزنې په برخه کې خپل څيړنيز فعاليتونه د اړيکو دځرنګوالي او پايلې ترلاسه کولو لپاره لارښود وګرځوي.

د ښوونې روزنې په بهير د سياستوالواغيز

دې مقولې! د ښوونې روزنې د کارپوهانو د څيړنيزوفعاليتونو په قانون کې ځای نيولی او ورپورې تړلي موضوعات په لاند ې ډول دي ـــ

ketabton.com - The Digital Library

**۱ ــ پە ښوونه او روزنه د نوي او لرغوني استعمار اغيز.**

**۲ ــ د اطلاعاتوپه موخه ښوونه روزنه ورکول.**

**۳ ــ ښوونه روزنه اوانقلابونه.**

**۴ ــ په سوسياليستي هيوادونو کښې ښوونه او روزنه.**

**۵ ــ د ښوونې روزنې په برنامو کښې د اساسي رکن په توگه سياسي زده کړه.**

**۶ ــ مخ پر ودې هيوادونو کښې د ښوونې روزنې ځانگړتياووې.**

**۷ ــ ښوونه روزنه او سياسي او ټولنيزې خبرتياووې.**

**۸ ــ ښوونه روزنه او ناسيوناليزم.**

**۹ ــ ښوونه روزنه او کاپيټليزم.**

**۱۰ ــ دولتي او خصوصي ښوونه روزنه.**

**۱۱ ــ ښوونه روزنه او ډيموکراسي.**

**په اوسني وخت کښې سياسي او اجتماعي تجربې او د انسانانو ټول هغه اجتماعي انقلابونه او کوښښونه دا څرگندوي چې په ترتيب سره ټولې پيښې ازادي لري.**

**د همدې موخې د څيړنې لپاره د خلکوحکومت د خلکو لپاره چې الهي، طبيعي، مدني او انساني حقوقو ته پکې احترام قايلييږي او ټولنيزې او فردي ازادي په کښې په نظر کښې نيول کيږي د پاملرنې وړ گرځيدلي.**

ketabton.com - The Digital Library

اوس بایـد وګـوروچې دې هـدف تـه د رسـیدو لپـاره بایـد افـراد اواشخاص څه ډول وروزل شي؟او کومې زده کړې باید وکړي یا پـه بل عبارت هغه کسان چې د هیواد په چارو کې مسئولین دي بایـد د کومو ځانګړتیاوو اوشرایطو لرونکي وي؟

په قطعي او یقیني ډول دغه دنـده هـم د روزنیـزواو زده کـړه ایـزو سازمانونو په غاړه ده چې خپل سیاستوال او غوره اشخاص د دقیقې او برنامه ریزي شوې روزنې څخه برخمن کړي په دې برخه کې هغه ځوانان چې د څارنې او رهبرۍ په برخه کې د لوړ استعداد او قـدرت څخه برخمن دي او دنورو د روزنې لپاره په دنده ګمارل کیږي ترڅود مسئولیتونو د اخیستلو، ټولنیز چارو، څارنې او رهبري لپاره پـوره لازم چمتوالی پیدا کړي ځکه چې سیاسي عوامل د فرهنګي، ټـولنیزو او اقتصادي عواملو د ټاکوونکي حساسیت څخه برخمن دي نـو ځکـه په ټاکلو کې ځیرتیا او د تبعیض پرته د غوره خلکو روزنـه او د خلکـو له مینځه د کره اودقیقو اسنادو او مدارکوتـه بایـد بشـپړه پاملرنـه وشي.

ځکه چې یو باخبر، انسان دوست او مسـئول اداره کـوونکی د یـوې سالمې ټولنې په جوړولو کښې بشپړه مرسته کوي. د سیاست علـم په پلټنې اوتحلیل سره د ټولنیزو پدیدو سیاسي بڼـې پـه نظرکښـې نیسي.

سیاسي تحلیل انسان سره مرسته کوي څو په کومه نړۍ کښې چې ژوند کوي او هر ډول کوچني او لوی تغیرات چې هر یو یې نه تجزیه

ketabton.com - The Digital Library

کیدونکي دي ډیر اغیز پرې واچوي ( GETTELL) وایی د سیاست علم هم د ښوونې روزنې او فلسفې په څیر بې شمیره تعریفونه لري.

دولت (State) دسیاست د علم پلټنې او تحلیل د ثقل مرکز بلل کیږي ځینې نور نظرونه هم دا وایي چې د سیاست علم له حکومت (Government)سره سروکار لري.

تلفیقي ډله بیا دا دواړه نظرونه مني لکه:

پل ژانت فرانسوي متفکر او پلټوونکې وایی : سیاست د ټولنیزو علومو هغه برخه ده چې د یو دولت بنسټونه او د حکومت پرنسیپونه تر بحث او پلټنې لاندې نیسي.

دسجویک په عقیده: سیاست حکومت لرونکې ټولنې پلټي یاني هغه ټولنې چې غړي یې لږ تر لږه په ځینو څرګندو مسائلو کې له ځینو خلکو او د ټولنې یوې برخې څخه امرونه اخلي

پورتني تعریف دسیاست د علم ځانګه پراخوي او تر دولت یې مهم او ضروري بولي.

دسیاست دعلم سنتي طریقه د بل دولت یا حکومت د پلټنې په عنوان مناسب نه شمیرل کیږي دا مفهوم یی په شکل تینګار کوي او قانون جوړونې ته په څرګندې ځیرتیا سره د قانون د ترسره کولو څخه ډیر د اجرا وړ وي.

او په همدې ډول د پویا طریقه او پایلې نالیدونکي نیسي، دا چې په کلي ډول منل شوې د سیاست پوهه په ټولنه کښې هغه غیر رسمي

ketabton.com - The Digital Library

سازمان اوسیاسي چلند په برکـې نیســي چــې د رســمي حکومــت جوړونکي او په هغې باندې تاثیر اچونکي سیاسی ځواکونه وي.

کاتلین په دې عقیده ده چې سیاست د انســاني او ســازمان یافتــه ټولنې پلټنه ده، او تر هر څه د مخه د ټولنیزژوند سیاسي بڼه مطالعــه کوي.

د دوه پیاوړو پوهانو له نظره سیاست د ټولنیز ژونـد دهغــو سیاســي اړیکو په اړه پلټنه ده، چې د انســانانوله یوځـای کیـدو ســره ســم رامینځته کیږي.

د هارولــد لاســول، (H.Lasswell) چارلزمریــام،(Merriam) مــاکس وبــر،( M.weber) برتراندراســل،(B.Russell)واتکیــنس(Watkins)او هانس مورګنتا (Hans Morgenthau)په څیر محققین، متفکران چــې د سیاست کتنې پر فطرت ټینګار کوي پدې عقیده دي چــې قــدرت دسیاست اساسي مفهوم دی، او د سیاســت ټــولې څــانګې ســره نښلوي.

لاسول د سیاست علم په اړه وایی.

د سیاست علم د یو تجربوي نظــام پــه توګــه د لوســتلو طریقــه، د قدرت شکل نیول او په هغوې کښې ونډه درلودل څخه عبــارت دی، او سیاسي عمل هغه عمل دی چې د واک پر بنسټ ترسره شي.

د قدرت د سیاست غوره او ترسره کوونکی اوټاکوونکی عنصــر دی او پیژندنه یې د سیاست د علم لومړنۍ او اصــلي دنــده ده. قــدرت

ketabton.com - The Digital Library

دسیاست زړه او د ثقل مرکز رامینځته کوي اوپه سیاسي ژوند تـولې پیښې د قدرت پورې اړه لري.

## نولي د سیاست څو تعریفونه په لاندې ډول کړېدي:

سیاست او هنر له امکاناتو څخه ګټه اخیستل دي، د ډیری سیاسـي فعالانو لپاره ددې امکان نشته چې خپلو ټولو هدفونو ته ورسیږي نـو پدې سره باید خپل لوړ پروازونه د خپل قدرت سره متناسـب کـړي هیڅ څوک نشي کولای چې د خپل قدرت او امکاناتو څخه ډیـر پـه سیاست کې د اعمال نفوذ وکړي او تاثیر پرې واچوي.

۲ ـــ سیاست او حکومت کـول پـه انسـانانوده، د هغواشخاصـو د اړیکې په هکله چې حکومت کوي او د هغو چې حکومت پرې کیږي، د اطاعت کوونکي او فرمانبردار ترمنځ استدلال کوي چې دغه اړیکه د سیاسي ژوند مرکز ده.

۳ ــــ سیاســت د واک لپــاره مبــارزه ده؛ د غــرب د سیاســي متفکرانوترمینځ د سیاست غـوره تعریـف دا دی چـې د واک لپـاره مبارزه اوپه ټولنه کې یې د اعمالو نفوذ دی.

۴ ـــ سیاست یانې پدې پوهیدنه چې څوک یی ګټي، څه شی ګټـي، په کومه موقع کې، څه ډول او ولې یی ګټي؟ دغه تعریـف هارولـد د سیاست په اړه کړی چې شعاري بڼه لري او په اسانۍ سره کـولای شو یادونه یې وکړو خو پدې باید پوه شو چې دا تعریف د سیاست د علم تعریف دی. نه د سیاست، ځکه چې د پوهیدا، او پـوهې څخـه خبرې کوي.

ketabton.com - The Digital Library

**۵ ــــ سیاست د ارزښتونواړینه ویشنه ده؛ چې لــه ایســتون ســره اړیکه لري او د سیاست علم وتلی مفهوم دی په سر کې خپله نــولي د سیاست تعریف داسې وړاندې کوي:**

**ټول هغه مستقیم او غیر مستقیم فعالیتونه چې د دولت ترلاسه کولو لپاره کیږي او د دولت د قدرت حاکمیت او د دولت قدرت څخه ګټــه اخیستنه ده ورسره ملګري دي د نولي تعریف هم نوښت نلري اوپــه واقعیت کې په بل ډول ویل شوي. دا چې سیاست د قدرت ترلاســه کولو، ساتلو، ډیروالي او ښودولو لپاره مبارزه ده که وغواړو دسیاست لپاره پراخ او جامع تعریف ولرو نو په دې ډول یې تعریفوو.**

**سوله ایزه یا غیر سوله ایزه رهبري د خلکو، ډلو او ګونــدونو تــرمنځ اړیکې، په یو هیواد کې د ننه حکومتي کارونه، په نړیواله برخه کې د یو دولت اړیکې د بل دولت سره څیړي.**

**په دې تعریف سره کولای شو د یو فرد، ډلې، ګوند او د یو حکومــت له سیاست څخه یادونه وکړو او له نړیوال پلوه هم د یودولت بهرنی سیاست مشخص کړو په سیاست کې د هر اجتماعي ځواک د ګټــو څخه یادونه شویده د دې ځواکونو د اختلاف په صورت کښــې دغــه ګټې یو د بل په وړاندې غبرګــون ښــایي. د یــووالي او مرســتې پــه صورت کې یې ترمنځ همغږی رامنځته کیږي یا په بل ډول اجتماعي ځواکونه د ګټو غبرګون یا تضاد یو له بل سره شخړې رامنځته کوي او د همغږی او ګټو د یوځایوالي په صورت یــو د بــل ســره یوځــای کیږي دهمغږیو سره د رهبــري ځرنګــوالی او د چلنــدونو لارښــوونه سیاست را څرګندوي.**

ketabton.com - The Digital Library

سیاست د اجتماعي ځواکونو د غبرګونونو، ګډو او همغږۍ یوه برخه ده. پدې تعریف کې د قدرت په کار وړلو مسئلې ته هم پاملرنه شویده.

سیاست که له تضاد څخه وي او که له همغږۍ څخه، په هر حال کې د قدرت پایله وي. یوازې په همدې توپیر سره چې په تضاد کې قدرت په غیرې سوله ایزه، زور، تاوتریخوالي او اجباري توګه وي خو په همغږي کې بیا په سوله ایزه ، د هڅونې او یاهم ډالۍ په توګه وي.

د افرادو، ټولنې، حکومتونو، ډلو، ګوندونو او دولتونو برنامو، طریقو او اهدافو ته رسیدلو ته هم سیاست وایی. د سیاست دا مانا د هغې د برنامه ریزي او وړاندوینې پورې اړه لري او تل د هغې لومړنۍ مانا سره ملګری دی.

سیاست په ټولنه کې د انسان د فعالیت تر ټولو حساسه حوزه ه. او د ټولنې فرهنګ، د خلکو د فکرونو، د ډله ایزواو شخصي ګډو او نظریاتو، د شخصي او اقتصادي عواملو تر تاثیر لاندې قرار لري او پخپله هم پرې تاثیر اچوي. دسیاست ددې تعریف په رڼا کې سیاست په بل ډول داسې پیژنو.

سیاست علم د اجتماعي خبرتیا هغه څانګه ده چې دنده یې په یو هیواد کښې د اجتماعي ځواکونوترمینځ د اصولو اوپه سیاسي روابطو کې دحاکمو قواعدو منظمه پیژندنه او په نړیواله برخه کښې د دولتونوترمینځ اړیکې دي.

ketabton.com - The Digital Library

په عامه مانا سره هره طریقه، په کار وړونکې لارې او یا هر شخصي
Politicsسیاست

یا اجتماعي امر چې د یوې ټولنې د ښه والي او غـوره والــي ســبب
ګرځي سیاست بلل کیږي

د ویبسټر ویبپانګه د سیاست کلمه پدې ډول تعریفوي: سیاســت د
ډول ډول او مرتبطو ټاکوونکوطریقو ترمینځ یوه ټاکل شوې طریقــه
او کرکټردی چې د تصمیم نیولو لپاره له مشخصو شرایطو سره چــې
له اوس او راتلونکي سره تړلي دي عبارت د.

(WEBSTER ۱۹۷۱ p ۶۵۶

حداد د – فرایند اموزش سیاست ګـذاري ـــــ پـه کتـاب کـې پـه
سیاستوالۍ کې د یوښه چوکاټ لپاره د سیاست علم ارزښــت پــدې
ډول را پیژني.

سیاست هغو څرګندو او روښانه تصمیمونو تــه وایــي چــې بیلابیلــو
لیدلوري په پوره تصریح او تاخیر په حال کې روښانه کړي.

سیاست هغه پدیده ده چې پوهه، شخصــیت او عمــل د هغــه درې
ټینګې برخې جوړوي امکان لري چې سیاسي پوهــه پــه مشخصــو
پرنسیپونو کې شامله وي، خو سیاسي عمل د عقلي ظرفیت، تجربو،
اخلاقو، ټولنیزو شرایطو، طبقاتي تړاونو، ګټو، موخو او تر دې چــې د
سیاستمدارانو له مینې څخــه متــاثره کیــږي. پــه همــدې ډول پــه
سیاسي کړنو او پایلو کې د سیاســتوالو شخصــیت ارزښــتناک رول
لوبوي.

ketabton.com - The Digital Library

سیاسي کارپوه د خلکو بالقوه ځواک په بالفعل ځواک بدلوي.

نړیوال بانک د لومړیو مطالعو او د زده کړې په میعارونو کې دوه لاملونه چې د چاپیریال زده کړه او زده کوونکې پایلې دي د علم د کیفیت لپاره ارزښتناکه بللي په همدې مطالعاتو کې دیته هم اشاره شوې:

د دزه کړې د چاپیریال په ښه والي سره کیدای شي چې د سیاستوالۍ او پانګونې په جلا جلا کیدو سره د مالي سرچینو تخصص، د شرایطو سره متناسب تجهیزات او انساني ځواک ترلاسه شي.

## د دین او مذهب او د ښوونې روزنې ترمینځ اړیکه:

په هره ټولنه کې اثار او روزنیزې پایلې مذهبونه او مذهبي لیدلوري دي.

په مذهب کې یو لړ عقاید لکه، دودونه، عبادات او اخلاقي ارزښتونه او د ستر څښتن تعالی رضا شامل دي.

د نفس د باور سببونه او انسانی اندیښنې د ښو اعمالو ترسره کولو لپاره لار هواروي همداډول مذهب د ښوونې روزنې له لارې د ټولنې د معنویاتو په پراختیا اغیز اچوي.

دبیلابیلو ټولنو، قومونو او ډلو یوځای کیدل د خلکو د ټولنیز یوځایوالي سبب ګرځي.

ketabton.com - The Digital Library

نن ورځ مذهب په يوهيواد کې د اجتماعي او فردي اړتياوو په توګه د نورو عواملو په مرسته چې يوځايوالي، ملـي پيوسـتون او د ښـوونې روزنې بنسټ ورځخه متاثره ده تامينوي.

له پخوا وختونو څخه په نړيواله کچه د ښوونيزو روزنيزو مراکزو پـه جوړولو او د ټولنې د معنوياتو په پراختيـا کـې د مـذهب پـه رول باندې په پراخه کچه ټينګار شوی. او له وړاندينو کلونـو څخـه دغـه معقول د ښوونې روزنې د برخې مفکرينو د پـاملرنې وړ ګرځيـدلې او هغوی دځيلو مطالعاتو په بهير کې هڅه کړې چې اوس او پـه تيـرو وختونو کې د زده کـړې او پـالنې او مـذهب تـرمينځ د اړيکـې پـه څرنګوالي نظر واچوي.

د دې ډول مطالعاتو مهم او اړين بحثونه په لاندې ډول دي ـ

۱ــــ تئوکراسي، زده کړه او پالنه؛

۲ــــ مسيحيت او په زده کړه او پالنه يې اغيز؛

۳ـــــ د لـوديځ پوهـانو پـه روزنيـزو فکرونـو کـې د کـالوينيزم او انګليکانيزم رول؛

يادابښت: کالوينيزم د پروټستان د دين يو څانګه ده دغـه ديـن يـو فرانسوي عالم چې کالوين نوميده رامنځته کړ ( ۱۵۰۹ ــــ ۱۵۶۴ ) کالوين هم د لوتر په څير د کاتوليک د کليسايي اقـداماتو او د پـاپ په لوړوالي نيوکه وکړه. هغه په اجتماعي چارو او ضروري ادارو کـې د سختو اخلاقي او مذهبي قوانيو په پلي کولو عقيده لري. په اروپا کې

ketabton.com - The Digital Library

د هغه عقایدو په چټکۍ سره پراختیا موندده او په فرانسه کـې یـې پلویان د ( اوګئو ) په نوم یادیږي.

انګلیکانیزم ( د انګلیسیانو دین ) دیـن د کاتولیـک او پروتسـتان د یوځای کیدو څخه رامنځته شوی.

پاچا یا ملکه د پاپ پر ځای د انګلیکانیزم د کلیسا په راس کې قـرار لري.

۴ــ د نړۍ د علمي او فرهنګي مراکزو په جوړولو کـې د مسـلمانانو رول.

۵ــ د ښوونې روزنې په پرمختګ کې د مذهب رول.

۶ــ مذهب او د بشر روزنیز او ټولنیز اخلاق.

۷ــ د انسان د روزنې په اړوند د مذاهبو لیدلوري.

۸ــ په نړۍ کې د دیني عالمانو او لویانو نظرونه.

دکلتور بحث او پر دین یې اغیز هغه بحث ده چې په ټولنـه د دیـن کړنې څرګندوي اصلاً دین باید کلتور جوړونکی وي.

خو په واقیعت کې د دین او کلتور ترمینځ متقابله اغیزمنونکې اړیکـه وجود لري دین چې تر ډیره په کلتوراغیز اچوي او دغه راز لـه کلتـور څخه متاثره هم دی او ښوونه روزنه هم له کلتور څخه متاثره ده.

د انسان او کلتور ترمنځ یوه ارزښتناکه اړیکه موجوده ده تردې چې د یوې ناپوهې ټولنې لپاره هم د هغوی هره عقیده او سنت د درنـاوی وړ وي.

ketabton.com - The Digital Library

قبیلوي ټولنه خپلو ټولو اجتماعي قواعدو او طرزالعملونو ته د ویـاړاو درناوی په سترګه ګوري همدا ډول عقلاني فرهنګ پخپله د ځـانګړو ارزښتونو لرونکی دی چې دغه ارزښتونه د عقلانـي انسـان لپـاره د درناوی وړ دي.

دانسان او کلتور ترمينځ اړیکه په بانـدنیو پدیـدو بانـدې د پـوهې اړیکه ګڼل کیږي، او انسان د کلتور په وړاندې یوه بې شـکله او بـې رنګه ماده ده، کلتور ورته د باورنو، عقیدو، دودونو، قواعدو او د ټولنې د منل شویو طرزعملونو مطابق رنګ او شکل ورکوي. په حقیقت کې کلتوري ارزښتونه هغه ارکان دي چې د انسان د فکـر پـه قاعـده او عمل کې ځای لري ددې لپاره چې اجتماعي قوانین او طرزالعملونـه بدلون وموومي، لومړی باید د ټولنې فکر او عقیده بدلون وموومي یانې د فکر په بدلون سره د عمل بدلون رامنځته کیږي.

دا بدلونونه له ښوونې روزنې پرته ناشوني دي.

ـ Religion)دین (( مذهب د لارې، طریقې په مانا سره ده.

د تړلو یا د مشتق یوځای کولو په مانا سره ده. LIGAREاو احتمالـآ د لاتیني کلمې له ریښې

د دین نوې فلسفې ډېری عالمان له خپل لیدلوري دین تعریفوي.

د في المثل په عنوان عمومي حالت د ایمان درلودل دي.او دا شاید د یو دلیل یا مدرک پر بنسټ وي مګر ډیر ټینګ یا د یومومن انسان د عقلی دلایلو څخه چې له ځان سره یې لري وي جان هیـک دیـن پدې ډول تعریف کړی:

ketabton.com - The Digital Library

**دین یوالهي قانون او اخلاق دي چې انسان ته پکې د ربښتینو عقایدو، نیک سلوک اومعاملاتو کې د خیر او حق په لور لاربښوونه کوي.**

## دښوونې روزنې سره د سولې اړیکه:

**ښوونه روزنه د ملي هویت په پیاوړتیا، د سولې او ټینګښت او په یوهیواد کې د یو ګټورې ادارې په پرمختګ کې اړینه او ضروري رول لوبوي.**

**ښوونه روزنه د زغم، برده باري، اعتدال ( برابري ) او ګډون لامل او د ټولنې کلتور ته خوځښت ورکوي.**

**روزنیزې موسسې، کورنۍ د یوې سوله ایزې روحیي په پالنه کې ارزنده ونډه لري د سوله ایزې فضا رامینځته کول ددې لامل ګرځي چې ددې خاورې د ماشومانو د سالمې روزنې لپاره لار هواره شي. او ماشومان پدې فضا کې دا یادوي چې سوله ایز چلندونه کوم دي او دا مومي چې بیلابیل توپیرونه د جګړې دلیل نشي کیدای.**

**ښوونه روزنه جګړه ایزاو ناوړه چلندونه په سوله ایز او ګټورچلندونو بدلوي. ماشومانو او ځوانانو ته باید وښوول شي چې خپل طبیعت، کورنۍ او هم ډولو سره په سوله ایزه فضا کې ژوند وکړي.**

**سوله څه ته وایی؟**

ketabton.com - The Digital Library

روښانه ده چې مونږ دلته د دې په لټه کې نه یو،څو په بشپړه فلسفي توګه ددې کلمې تعریف وړاندې کړو. بلکه زمونږ هوډ ددې کلمې واقعي او ریښتیني تعریف وړاندې کول دي.

د سولې له واقعي او عیني تعریف څخه موخه داده چې ټول پرې همغږي او ورته د منلو وړ وي. هرچاچې دغه کلمه کاروله هرو مرو په قطعي ډول باید دا موخه په پام کې و لري.

دسولې ترټولو ښه او ریښتینی تعریف، چې ټولو ته د منلو وړ او ټول پرې هوکړې ته رسیدلي په لاندې ډول ده.

له تاوتریخوالي پرته ژوند کول اوپه ټولنه کې یود بل حق پیژندل هم د سولې او عدالت پر بنسټ ترسره کیږي.

پدې مانا چې هرچاته خپل حقوق ورکړل شي، څو د نورو په حقونو تیری ونه کړي Gerchtigkein په بل عبارت هر څوک د خپلو حقوقو کرښه وپیژني وړاندې ورڅخه لاړ نشي او د نورو په حقووتیری اوخیته وانه چوي.

که سوله د ټولنیز عدالت برخه ونه ګڼل شي. نو نشو کولای د جګړې د رامنځته کولود جوړښت عوامل له منځه یوسو. د ټولنیزې نابرابرې شتون، چې د ټولو بیوزله هیوادونو یوه ځانګړتیا ده له جګړې وروسته د هیواد د بیاروغونې په وړاندې بنسټیزې ننګونې زیږوي.

ketabton.com - The Digital Library

**پدې هیوادونو کې د بې ثباتي د رامینځته کیدو یولامل نابرابری ده، بل دا چې یو معقول او متوازن سیاست کموالی د بیوزلی د زیاتوالي سرچینه ده.**

**که په یوه ټولنه کې قانوني طرزالعملونه او قدرت د ټولـو طبقـاتو او ډلو ترمینځ په بشپړ ډول په مساویانه، برابراو په قـانوني ډول ونـه ویشل شي د شخړې اړوند مسایل نه حل کیږي او پخپل حال پاتې کیږي. یوازېنې لار دا ده چې د ظرفیت لـه لارې داجتمـاعي ډلـو لـه ګډون سره د سیاسي او ټولنیزو پړاونو چې له حاشیې ځخه ایسـتل شوي پرمختګ کوي.**

**تل پاتې سوله ترهغه نشي تامینیدای خـو ترځـو چـې سـیمه ایـز، دولتي، محلي او نړیوال سیستمونه او د عدالت پلي کولو سره جوړنه شي. د عدالت موجودیت خلکو ته ددې زمینه برابـروي چـې خپلـې اړتیاوې په سمه توګه بیان کړي.**

**د ځو قومي او فرهنګي واحدونو په رامینځته کولـو د قـومي تفـاوت منل او پخپلو چارو کې خپلواکیت ورکول دي.**

**د کوین کلمنټ په وینا ( نابرابرې اړیکې باید برابرې کړو ) اړینـه ده چې حاکمه ډله پدې قانع کړو، چې په اوږد مهال وخت کـې د یـوې ریښتنې او عادلې ټولنې جوړونه د هغوی په ګټه ده**

**سوله په ټوله ایز او عامه مانـا سـره د متـارکې، د هـوکړې ښـکلا، ملګرتیا، همغږی او هوساینې په مانا ده، خو د تعریف ټول مقـدماتی شرایط لکه : خپلواکي، بشـر حقـوق، عـدالت او همداسـې فعـالې**

ketabton.com - The Digital Library

ستراتیژیانې لکه د عدم تشدد شخړې بنستیز حل، په ډیموکراتیک اساس د دولتي ادارو اوټولنو جوړول چې د سولې د ټینګښــت او تــل پاتې والی لپاره ضروري دي ، په بر کې نه نیسي.

ځینې د جګړې نشتون بیا سوله بولي، چې دغه برداشت یا تعریــف هم موضوع ساده او اسانوي ځکه چې د بې باورۍ او بــې اعتمــادی دغه احساس چې د جګړې ګټونکي او بایلونکي دواړو له ځانه ســره ساتلې نادیده نیسي.

د دوی په اند که خلــک د اوږدمهــال لپــاره پــه ښــکاره ډول تشــدد لرونکي اقدامات او فزیکي فعالیتونه ترسره نه کړي نو دا پدې مانا ده چې سوله تامین شوې.

خو سوله د پوهانو له نظره پــه مختلفــو پړاوونــوکې پــه درې برخــو ویشل کیږي چې په لاندې ډول دي.

منفي سوله، مثبته سوله او دیموکراتیکه سوله.

باید په یاد ولرو چې زمونږه تمتیا او پاملرنه په مثبتې سولې دی. تــر څو منفي بڼه یې له مینځه لاړه شي کله چې مونږ د ســولې پــه اړه خبرې کوو نو زمونږ نظر اولیدلوری د سولې مثبته کیدو کــې مطــرح کیږي.

پدې شرط که ریښتیا هم په واقعی او ریښتني ډول رامینځته شي نو نور به د سولې په قاموس کې منفی کلمې ته ځــای پــاتې نشــي. د سولې کلمه یوه سپیڅلې کلمه ده او دانسان لیدلوری د روښنایي پــه

ketabton.com - The Digital Library

**لور بيايي نو غوره ده چې سولې ته په يو مثبت، خيـر او ښـيګڼې او درنښت په سترګه وګورو.**

**د موضوع د لا روښانتيا او غوره والـي پـه خـاطر د سـولې لغـوي او اصطلاحي مانا بيانوو**

**سوله يوه عربي کلمه اوعربي ژبه کې په يوولسو ماناوو سره راغلـې ده.**

**۱ــ ګټه يا فايده**

**۲ــ مناسب او ورتيا**

**۳ــ استعداد**

**۴ ــ دجوړيدو په مانا يعنى د زيانونو او کمښت له منځه وړل .**

**۵ ــ ښه کيدل**

**۶ ــ ښيګڼه يا د ښګينو ترسره کول**

**۷ــ په هوساينه او نعمت کې ژوند**

**۸ ــ د يوځيز ډيروالى**

**۹ ــ پخلاينه**

**۱۰ ــ اتفاق اويووالى**

**۱۱ ــ د اوربند يا د جګړې پاى**

**مثبته سوله**

ketabton.com - The Digital Library

مثبته یا د تل پاتې سولې پیل د هغو شرایطو د رامینځته کولو په لته کې ده چې وکولای شي د بې اعتمادي او بې باورۍ هغه ریښې او عوامل چې  دواړه خواوې پکې اخته وي او دتشدد ډیروالي لامل ګرځي لمنځه یوسي.

د ډیری پوهانو له نظره مثبته سوله د انساني ډلو ترمینځ د سوله ایزو اړیکو، مرستو اوفعالې همپالنې یوه نمونه ګڼل کیږي، چې وګړي پکې د ډول ډول اجتماعي، اقتصادي او سیاسي سازمانونوله لارې د اجتماعي ارزښتونو اوشخړو د ژوندي ساتلو لپاره لکه زغم،او د سولې، امنیت، خپلواکي او ډیموکراسي د سولې مینځته راوړنه په هیوادونو کې همکارۍ او مرستې لامل ګرځي.

منفي سوله

منفي سوله هغې سولې ته ویل کیږي چې د اجتماعي بنسټونو له خو رامنځته کیږي

ترڅو  امنیت د افرادو، ډلو او ملتونو د فزیکي تشدد د رامنځته کیدو په موخه تامین کړي.

پدې مرحله کې په جګړې او تشدد باندې تینګار کیږي، نه د هغه په ریښې ایستلو د جنګ اوتشدد عوامل دمنفي سولې د مرحله  په سیاست اوستراتیژۍ کې شامل دي بلکه موخه ورڅخه داده چې دواړه خواوې یو له بل څخه لیرې وساتي یا په بل عبارت په فزیکي، اجتماعي، سایکولوژیکی او جوړښتي ډول د جګړې لمنځه وړل دي کولای شو منفي سوله د  محدودې یا نسبي سولې په نوم ونوموو.

ketabton.com - The Digital Library

## د ښوونې روزنې او احصايۍ ترمينځ اړيکه:

د ټولنيزو او روزنيزو علومو طريقې يا لارې د زياتوالي په حال کښې دي.

د احصايې څانګې، څېړنيز موضوعات، د تکنالوژۍ او د شميرنې طريقوله پرمختګ سره نوي نظرياتو د ښوونيز نظام او شميرنې اندازه ګيري د ښوونې روزنې اړيکه له احصايې سره لا زياته ټينګه کړې ده. داحصايې د ارونواو طريقوڅخه خبرتيا په ټولو علومو په ځانګړې توګه په روزنيزو علومو کښې مهم ګڼل کيږي.

ښوونه روزنه په خپلو څيړنو کښې له ډيرو لارو څخه ګټه پورته کوي او له احصايې څخه پخپلو علمي څيړنو کې کار اخلي.

ځای لري څو ترهر څه وړاندې د احصايی په اساسي او بنسټيزو مفاهيمو باندې پوه شو چې په اړه يې لا زياته پلټنه وکړو. احصايه چې په انګليسي ژبه کې ورته ( statistics ) وايي له لاتيني کلمې څخه ( status )چې د دولت په مانا ده اخيستل شوېده د کلمې مفهوم روښانوي چې په پخوا وختونو داحصايې څخه د دولتونود اړتيا وړ شميرې او خبرتياوې چې د مالياتو، خدماتو او نورې هغه چارې چې هيواد پورې تړلې وې ګټه اخيستل کېده.

په علمي څيړنو کښې د احصايوي لارو استمعال د ټولنپوهنې په سلوکي علم ( ښوونه روزنه، اروپوهنه ) پورې محدود نده ، بلکې دد

ketabton.com - The Digital Library

ې لارو استعمال د ټولو علومو په څېړنه لکه: بیالوژي، کیمیا، فزیـک، طب، اقتصاد، زراعت او نورکې دود ده.

دبیلګې په ډول: احصایوي لارې د ښوونې روزنې یوعالم ته دا تـوان ورکوي چې د تدریس او درسي موادو له مختلفو طریقو څخه ګټورې پایلې په لاس راوړي.

له احصایوي لارو سره د روزنیزو او ټولنیزوعلومو زده کوونکو بلـدتیا له څوارخونو ضروري ده.

لومړی دا چې په هره دقیقه او علمي مجله کې د احصـایې اصـطلاح یادونه اړینه ګڼل کیږي.

د زده کړو او پرمختګ ترلاسه کولـو لپـاره د احصـایوي لارو څخـه خبرتیا اړینه ده، که د احصایې تاریخ ته ځیر شو نو وبه وینو چې لـه کومه وخته چې طبقاتي ټولنه رامینځته شوه ورسره یوځـای ایجـاد شوې او دغه رازاحصایه اوږد شالید لري.

پخوانیـو مصـریانو، بابلیـانو او رومیـانو ( ۳۰۵۰ ) کالـه وړانـدې د سرچینو او نفوس مفصل ریکارډونه د دولتي چارو د ساتنې په موخـه خوندي کول.

د احصایې استعمال هغه وخت پیل شو کله یوې قبیلي وغوښتل تر څو پوه شي چې مقابل لورى څومره جنګي کسان لري او څومره اس سپاره. ( هغه عسکر چې په اسونو سپاره وي )، جنګي وسـایل یـې څومره دي چې وکولای شي په وسیله یی خپل دښمن ته په جګـړه کې ماته ورکړي. بیا وروسته په فرانسه کښـې د ګمرکـي مالیـاتو او

ketabton.com - The Digital Library

اطلاعاتو په ټولو او په پای کې هم په لندن کې د هغو وګړو شمیرچې د طاعون له ناروغۍ له کبله یې ژوند د لاسه ورکړی وو.

نن ورځ احصایه د یو عام توکي په توګه طبي، طبیعي او اجتماعي مسایلو په څېړنه او پلټنه کې کارول کیږي.

که چیرې مونږ د احصایې دعلم لارو ته ځیر شوو وبه وینو چې ارتباطي او تعقیبي (استنباتي ) ستاینه لري. د احصایی اصلي هدف دیوې ټولنې د ځانګړتیاوو د اندازې ستاینه او د هغو د ځانګړتیاوو د پایلو په لاس راوړل دي.

د احصایی څو تعریفونه ( پیژندنه ):

هغه لارې دي چې په ذریعه یې شمیرې او مالومات راټول، ترتیب او وړاندې کیږي.

هغه لارې دي چې د شمیرو مشخص ارزښتونه او مالومات راټول، تثبیت او تشریح کړي.

د هغه طریقو ټولګه ده چې د پراخو ټولنو او شیانو د مطالعې او څېړنې په موخه کارول کیږي.

## د انسان پیژندنې او ښوونې روزنې ترمینځ اړیکه:

انسان پیژندنه، د نژادي ویشنې، جسمي ځانګړتیاووې، جغرافیایی تقسیمات، چاپیریال، ټولنیزې اړیکې او د انسان فرهنګي وده تر پلټنې لاندې نیسي.

ketabton.com - The Digital Library

انسان پیژندنه هغه پوهــه ده چــې دانســان طبیعــي، اجتمــاعي او فرهنګي وده مطالعه کوي

د نژادي تقسیماتو، ادابو، دودونو او لومړیو انسانانو سازمانونو پورې اړوندې نوې څېړنې د روزنیزو علومو د پوهانو لپاره مهمې ګڼل کیږي او د ښوونې روزنې د سیاستوالو لپاره دا ډول خبرتیــاووې د زده کــړه ایزو پروګرامونو د ټاکلو لپاره د ښه فرصت لاره هواروي.

انسان پیژندنې ته په انګلیســي ژبــه کــې Anthropology د انســان مطالعه په فرانسوي ژبه کې انسان پیژندنــه Ethnologist د قومونــو مطالعه او پــه المــاني ژبــه کښــې Volkerkunde د ابتــدایي اقوامــو مطالعې په مانا سره ده.

انسان پیژندنه د ټولنیزو پیښو د پیژندلو لپاره د ټولنــو مشــاهده ده، چې دپیښو ثبت او ضبط امرونه یې ټول په اسنادو او مــدارکو ســره خپروي چې دا خبرتیاوې د روزنیزو علومو د پوهانو لپاره اړین او مهم ګڼل کیږي.

انسان پیژندنه یانې فردپیژندنه، قوم پیژندنه، ملت پیژندنه، کــورنۍ پیژندنه او په پای کې هم د ټولنپوهنې د امر په مانا سره ده د یــادو کلماتو له توحید څخه د انسان پیژندې مفهموم زیږوي په واقیعــت له پورتنیو کلماتو ســره بلــدتیا د هغــې تــولنې خلکــو پیژنــدلو تــه لاسرسی ده.

ketabton.com - The Digital Library

## داناتومي او د ښوونې روزنې ترمینځ اړیکه:

اناتومي یا جوړښت پیژندنه له هغې پوهې څخه عبارت ده چې د بحث موضوع یې د ژوندیو موجوداتو د جوړښت تشریح ده.

اناتومي له دوه یوناني کلمو څخه اخیستل شوې چې انا د جوړښت او تومي د تشریح په مانا ده.

څه ډول چې ښوونه روزنه له نورو علومو سره اړیکه لري هماغه ډول یې له اناتومي سره هم لري.

لکه چې مو وویل اناتومي د ژوندیو موجوداتو له جوړښتي تشریح څخه بحث کوي او محتوا یې د بدن د سالمو برخو جوړښت د اهمیت وړ او د سالمو غړو د لرلو پرته نشو کولای څو په سمه توګه ښوونیز او روزنیز مهارتونو او وړتیاوې ترلاسه کړو.

دمثال په توګه: که چیرې د یو فرد د اوریدو دستګاه چې فعالیت او کړنې یې کمزورې وي نو یاد شخص طبعاً د زده کړې ترلاسه کولو په برخه کې کمزوری وي.

د زده کړې او مالوماتو لیږدونه او د مهارتونو ترلاسه کول هغه وخت ګټور تمامیږي چې انسان د سالمې اناتومي دستګاه څخه برخمن وي.

## د فزیولوژي او ښوونې روزنې ترمینځ اړیکه:

فزیولوژي د بیولوژي له هغو مهمو څانګو څخه ده چې د ژوندیو موجوداتو د ژوند اعمال، غړي، نسجونه، سلولونه او د سلولونوعناصر

ketabton.com - The Digital Library

مطالعه او د ژوند د ژورو اعمالو پوهیدو لپاره هڅه کوي څو په مختلف چاپیریال یا د ژوندیو موجوداتو په بیلابیلو شرایطو کې د هغوی خواص او د اعمالو د بدلونو ترمینځ چې کومې اړیکې موجودې دي تر پلټنې لاندې ونیسي.

فزیولوژي ددې اعمالو وده او پرمختیا په یو ډول او په یو ژوندي موجود کې او همدا ډول د محیطي شرایطو سره د هغوی بدلون او مطابقت ترمطالعې لاندې نیسي.

د فزیولوژي علم موخه د فزیکي او کیمیایي عواملو ستاینه ه چې د انکشاف د سرچینې او د ژوند د دوام مسئول دي. هر ډول ژوند له ساده ویرسونو څخه تر موجوده ژوند پورې ځانته ځانګړي مشخصات او کړنې لري. پدې پراخ قلمرو سره کولای شو چې فزیولوژي په ویروسي، سلولي، ګیاهي او انساني فزیولوژي برخو وویشو .

په انساني فزیولوژي کښې مونږ د انسان د بدن د ځانګړتیاوو او میکانیزمونو په ستاینه اخته کیږو چې هغه یو ژوندي جسم جوړ کړي وي.

هغه مالومات چې د فزیولوژي په برخه کې تري یادونه وشوه د روزنیزو علومو د عالمانو د پاملرنې وړ او په ځانګړې توګه د انسان د فزیولوژي بحث ده.

فزیولوژي هغې پوهې څخه عبارت ده چې د ژوندیو موجوداتو له بیلابیلو دندو او وظایفو څخه بحث کوي.

ketabton.com - The Digital Library

فزیولوژي له دوه یوناني کلمو څخه اخیستل شوې چې فزیو د دندې او لوژي د علم په مانا سره ده یانې د غړو د دندې علم دی.

ښوونه روزنه له فزیولوژي سره په اړیکه کښې ده ځکه ټول مالومات او خبرتیاوې د مرکـزي عصـبي سیسـتم څخــه چــې د میلیـاردونو نیورونونو لرونکی ده ترسره او لیږدول کیږي.

هغه ځانګه چې خبرتیاوې ترلاسه کوي د دندرایت پــه نامــه ســره یادیږي او هغه برخه چې انګیزه بل نیورون یا غــړي تــه لیــږدوي د اکسون په نامه یادیږي.

همدا ډول که نباتي اعصاب ولولو نو وبه ګورو چې د عــالي حیوانــاتو په تدریجي پرمختیا کې د مرکزي عصبي سیستم ځینی تقسـیمات او دندې رامنځته شوي.

یوه برخه یې د سوماتیک اعصاب یا هغه جسمي سیســتم ده چــې هلته محیطي او مرکزي عصبي سیستم داخل وي او د هغو اطلاعــاتو د پوهیدو لپاره ځانګړي شوي وي چــې د چاپیریــال څخــه پیــدا او حرکات تنظمیوي. دویمه برخه یی د نباتي اعصابو سیستم ده، چــې د داخلي غړو د لارښوونې او د موادو د بدلولو لپاره ځانګړی شوېده .

د نباتي اعصابو سیستم اوهمدا ډول د حسي غړو د توازن او عمومــآ ټول غړي لکه د سوماتیک اعصابو سیستم هــم د لازمــو رژیمونــو د فعالیتونولپاره چمتو کول په غاړه لري.

ketabton.com - The Digital Library

دا سیستم د بدن د ټولو غړو خواړه تامینوي او د ټولو سیستمونوپه عظمي فعالیت کې د انرژي په تامینولو کې چې پخپله مغز هم د هغو له ډلې څخه دي شامل دي.

لوستل، لیکل او هر ډول خوځښتونه او کړنې د سوماتیک اعصابو په مرسته ترسره کیږي دا دندې د مغزو د عالي دندو په واسطه ترسره او کنټرولیږي چې دا د ارادې په نوم یادیږي.

مونږ په اسانۍ سره حروف جلا کولای شو او د غوښتنې په صورت کې وهغه څه چې لیکو په لوړ اواز یا پخپلې ارادې سره ولولو.

د سوماتیک اعصابو د فعالیت سیستم د اسکلیټ او غړو فعالیت چې له هغې جملې څخه ټول هغه حرکات چې په ارادي ډول د انسان له خوا ترسره کیږي د ارادي حرکاتو په نوم یادیږي.

ارادي فعالیت د انفرادي ژوند په بهیر او د زده کړې په نتیجه کې جوړیږي. د یادونې وړ ده چې زده کړل شوي ارادي خوځښتونه په څو څو ځله تکرارولو سره کیدای شي په اتوماتیکه توګه یاد شي.

ددې په یادونې سره د نباتي او سوماتیک اعصابو د سیستم ترمنځ ټینګه اناتومي اړیکه موجوده ده.

بالاخره باید یادونه وکړو چې ښوونه روزنه د فزیولوژي سره ډیره پراخه اړیکه لري چې مونږ یې پدې بحث کې ګنجایش نه وینو او په همدې لنډیز دلته بسنه کوو

پای

ketabton.com - The Digital Library

**اخذلیکون**

**۱- امین، امین الله و دیگران(۲۰۰۹) پیداکوژي لارشود. چــاپ اول، کویت العادف پرنتنک پرس.**

**۲ ـ اقا زاده، احمد. (۱۳۸۱). امــوزش و پــرورش تطبیقــي. تهــران، سازمان مطالعه و تدوین علوم انساني دانشگاه (سمت).**

**۳ـ اموزگار، محمد حسن. (۱۳۷۹). فلسفه و مکتــب هــای فلســفی. چاپ اول، تهران، انتشارات دانشگاه علامه طباطبایی.**

**۴- اریان پور، امیرحسین، (۱۳۶۴)، جامعه شناسي هنر. کابل، چاپ دوتاسیون مطبعه حزبی.**

**۵ـ جونز، گرنت.(۱۳۷۶)، اقتصــاد امــوزش و پــرورش، چــاپ اول، اصفهان، انتشارات، جهاد، دانشگاه اصفهان.**

**۶ـ چند تن از اساتید غرب.(۱۳۶۶)، فلسفه یــا پــژوهش حقیقــت. چاپ دوم، ترجمه سید جلال الــدین مجتبــوی. تهــران، انتشــارات حکمت.**

**۷ـ حجتی، محمد باقر.(۱۳۷۴)، اسلام و تعلیم و تربیت، بخش اول تربیت. چاپ شانزدهم. تهران، انتشارت، امیر کبیر.**

**۸ـ خاتونی، علی رضا.(۱۳۸۶)، چکیدیی روان پرستاری. چــاپ اول. تهران، انتشارات سماط.**

**۹ــــ داوری، رضــا.(۱۳۵۹)، فلســفه چیســت. چــاپ اول. تهــران، انتشارات: انجمن اسلامی حکمت.**

ketabton.com - The Digital Library

۱۰ـ زرشکی، علی دره و دیگـران(۱۳۸۰)، درس نامـه علـوم پایـه پزشکي ایران بهداشت و علوم تندرستی. جلد سوم، تهران، ناشـر: موسسه فرهنگی انتشاراتی تیمور زادهــــ نشر طبیب.

۱۱ـ طباطبـایی، محمـد حسـن.(۱۳۶۶)، اصـول فلسـفه او روش ریالیزم، جلد یک. تهران. انتشارات امیر کبیر.

۱۲ـ طبیبی، فرانک.(۱۳۸۰)، درس نامه علوم پایه پزشکي. جلد ۷. تهران، ناشر: موسسه فرهنگی انتشاراتی تمیور زاده، نشر طبیب.

۱۳ـ عالم، عبدالرحمن.(۱۳۸۷)، بنیادهـای علـم سیاسـت. چـاپ هژدهم، تهران، چاپ غزال.

۱۴ـ فولادی، دای.(۱۳۸۲)، دیـن، فرهنـگ، سیاسـت. چـاپ اول. کابل، نشر بنیاد انکشاف مدنی.

۱۵ـ قوام، سید عبدالعی.(۱۳۸۱)، سیاست های مقایسـوي، چـاپ چهارم. تهران، سـازمان مطالعـه و تـدوین کتـب علـوم انسـاني دانشگاه های (سمت).

۱۷ـ کاروان، علی محمد و جمعی از نویسنده گـان.(۱۳۸۰)، علـوم تربیتی ماهیت و قلمرو ان، چاپ اول. سازمان مطالعه و تدوین کتب انسانی دانشگاه(سمت).

۱۸ــــ مشـایخ، فریـده.(۱۳۸۵)، دیـدگاهای نـو در برنامـه ریـزی اموزشی. چاپ ششم. تهران، سازمان مطالعه و تدوین کتب علـوم انسانی دانشگاه (سمت)

ketabton.com - The Digital Library

۱۹ـ نیکزاد، محمود و د یگران.(۱۳۷۹)، اصول نظریه های تربیتــی.
تهران، اعضاهیت علمی دانشگاه ازادی اسلامی.

۲۰ـ Hadded, W.D (۱۹۹۵), Education policy planning process:
an applied from work, paris, unesco, HEP.

ketabton.com - The Digital Library



# مننه او کور ودانی

د افغانستان ملي تحریک له هېواد پال او فرهنګپال شخصیت ښاغلي (خان افضل هډه وال) څخه د زړه له تله مننه کوي چې د دې اثر چاپ ته يې اوږه ورکړه. ملي تحریک ویاړي چې د علمي اثارو د چاپ لړۍ يې پیل کړې ده. دا لړۍ به دوام لري. موږ له ټولو درنو هېوادوالو څخه په خورا درنښت هیله کوو چې په خپل معنوي او مادي وس د کتابونو د چاپ دا لړۍ لا پسې وغځوي.

یو ځل بیا د دې اثر له ژباړونکي او چاپوونکي څخه د زړه له تله مننه کوو چې د دې اثر د ژباړلو او چاپولو جوګه شول.

په فرهنګي مینه

د افغانستان ملي تحریک

ketabton.com - The Digital Library



M.Akbar Niazi

د افغانستان ملي تحریک
www.melitahrik.com

د ژباړن د خپرونو لړ: ۲
د تحریک د خپرونو لړ:۸۶

## Thank you for reading

Find more e-books and articles on Ketabton - your multilingual digital library.

**www.ketabton.com**

*Ketabton - Pashto, Farsi, Arabic & English*